

له هېواده بهر په لومړي ځل په 1976 ع کال د جون دمیاشتې پر ۶مه نېټه د **پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ ټولنه** جوړه شوه , چې د ملتپاله (قامپرستو) **پښتنو** سربیره د ملتپاله **بلوڅانو** استازو هم پکې غړیتوب لره او د" **ولس غږ**" او "**لمبه**" خپرونې یې هم لرلې .



اولس غږ


- اولس غږ د اولس آواز خپروی او د اولس سره په گډه مبارزه کوی
- اولس غږ زموږ د ټولنی د ټولو ملیتونو د سیاسی، اقتصادی، اجتماعی، کلتوری، ذهنی او نورو اجتماعی حقوقو د گټلو د پاره مبارزه کوی
- اولس غږ د پښتون او بلوچ اولس ستر انقلابی تاریخ په رښتیا سره بیانوی
- اولس غږ زموږ د اولس د ملی او طبقاتی د ښمناڼو په ضد نه ستړی کیدونکی مبارزه کوی
- اولس غږ زموږ د اولس ملی او طبقاتی مبارزه خبرگه او نه ستړی کیدونکی بولی
- اولس غږ د ټولو مظلومو اولسونو، ملی آزادی غوښتونکی غورځنگونو او د نړی د کارگری غورځنگ سره خپل ټینگ ملاتړ کوی




د "ولس غږ" لومړی ګڼه په 1977 ع کال د نوامبر په میاشت کښې بې له پوښتی په 68 مخونو کښې ( د ډین ای5په کچ) چاپ شوېده

# Walas Ghag Magazine

## Organ of National Liberation Union of Pashtoons and Baluchs in Germany -Frankfurt/ a.M



ولس غږ: لومړی ګڼه نوامبر 1977

سرلیکونه


سرلیک ........................ مخ

(۱) ـ سریزه ........................ (۱)

(۲) ـ اولس غږ ........................ (۵)

(۳) ـ د پښتنو او بلوچو د ملی ازادۍ تولنی د لومړی کلیزی نمانځنه ........................ (٦)

(٤) ـ د پاکستان واکداران، پښتانه او بلوچ .... (۱۳)

(٥) ـ دولت او انقلاب ........................ (۲٤)

(٦) ـ مشاعره ........................ (۳۲)

(۷) ـ ملی ازادۍ بخښوونکی غورځنګونه ........ (۳۳)

(۸) ـ واقعیت او حقیقت ........................ (٥٤)

(۹) ـ د پښتنو او بلوچو د ملی آزادۍ مسئله د نړۍ ایز کارګری جنبش په رڼا کښې .......... (٥۷)

(۱۰) ـ استعمار او امپریالیزم د کوم آفت نوم دئ؟ .... (٦۰)

(۱۱) ـ فیصله ........................ (٦٤)

(۱۲) ـ فیصله لیک ........................ (٦٦)

(۱۳) ـ د پښتنو او بلوچو د ملی آزادۍ تولنی لخوا خو پېښو ته نظر ........................ (٦۷)

(۱٤) ـ د ګرانو د لوستونکو د پام ور ....... (٦۸)




د پښتنو او بلوچو د ملی آزادۍ تولنی پته:

NLUPB
Post Box No. 190293
6 Frankfurt-Main 19
W. GERMANY


د ولس غږ موخې او غوښتنې د "ولس غږ" مجلې پر پوښتی لیکل شوي دي


د " ولس غږ" دویېمه ګڼه د 1979 کال د مې په میاشت کښې
بې له پوښتۍ په 51 مخونو کښې په ډینا 5 کچ په سپین کاغذ
او دریېمه ګڼه یې په 1980 کال ډسمبر میاشت کښې په سپین
کاغذ په 39 مخونو کښې ( ډینا 4 په کچ) خپره شوېده




سرلیکونه


مخ
سریزه ۱
پښتونولي او ټولنولي ۲
ښځه د لاچې بوره شوې ۱۵
مارکسیزم لینینزم او ملي مسئله ۱۸
د ګران ملي مشر اجمل خټک له خوا پښتنو او بلوڅو ملي ازادۍ ټولنۍ ته
مارسیدلی لیک. ۳۷
دا څه ناشوی دی ؟ ۳۹
د کامې کرښنې . ۵۰
پښتون او غلامي ۵۱
د ګران ملي مشر ولي خان سره د اولس غږ د خبریال مرکه ۵۴
آزادي ۵۹
د ملاترکیلونه ۶۰
ماولوله ۶۳
لوی زړی ۶۴


ولس غږ : 2 مه ګڼه مې 1979



ولس غږ : 2 مه ګڼه مې 1979



اولس غږ

■ اولس غږ د اولس آواز خپروي او د اولس سره په ګډه مبارزه کوي
■ اولس غږ زموږ د ټولنې د ټولو ملیتونو د سیاسي، اقتصادي، اجتماعي، کلتوري، ژبني او نورو اجتماعي حقوقو د ګټلو د پاره مبارزه کوي
■ اولس غږ د پښتون او بلوچ اولس ستر انقلابي تاریخ په رښتیا سره پیژنوي
■ اولس غږ زموږ د اولس د ملي او طبقاتي دښمنانو په ضد نه ستړې کیدونکې مبارزه کوي
■ اولس غږ زموږ د اولس ملي او طبقاتي مبارزه خبرګه او نه ستړې کیدونکې بولي
■ اولس غږ د ټولو مظلومو اولسونو، ملي آزادۍ غوښتونکي غورځنګونو
او نړۍ د ټولو ازادۍ غوښتونکو د لوسره خپل ټینګ ملاتړ کوي




اولس غږ

د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ ټولنې
خپرونکې ارګان

دریمه ګڼه - د دسمبر میاشت ۱۹۸۰ ع کال

بیه : دوه جرمنۍ مارکه


-١-

## سریزه

بې له دې څخه چې په لیکه تمام کړی د ازادی لپاره ذهنی انقلاب ته وی راغلی د غزای تیاری
نه وی کیږی. خپرونی او نشریات د تمام د فکر په و بنیاد جوړ او ذهنی انقلاب کی مهم
رول لوبوی له دی امله دپښتنو او بلوڅو دملی ازادی تحریک په خپلو خپرونو او نشراتو کی
ددی هڅه کوی چه څه ډول پښتون ملت دخپل د الی او خپلواک هیواد state، پښتونخواه
د جوړولو لپاره سیاسی مبارزه ... د هیواد په ټوله برخه بانډی د روښی یرغل لو
فوځ د قبضی هڅی شوله په خاطر کښی ... د شوروی او امریکې د غوښتو په عرض د
پښتنو او بلوڅو دملی ازادی تحریک ... د روسیانو د یرغل په ضد د ... کال
د ... په میاشت کی ... مظاهره په ... Bonn کی ... او په وطن کی -
... تر ددی تیاری ... چه ... استعمار که د
د ... استعمار ... پښتون د ... او سر بیره پر دی د
میاشتی ... د لمبی ... دا ازادی لپاره د تمام د ... او مترقی
مبارزه لاپسی چټکه کړه.
له قدیم استعمار او د هغه بریښې په مختلف ... د پښتنو او بلوڅ د ازادی په
ضد ناکامی هڅې کوی ... دپښتنو د ازادی ... راتونله
دی او ... د پښتنو ... خپلواک هیواد state، پښتونخوا کی رامنځ
او دپښتنو حکومت به جوړ کړی.

## سرلیکونه


| | |
|---|---|
| سریزه | ١ |
| فخر افغان | ٦ |
| باچاخان، مونږ سیاسی پلار | ١٢ |
| پښتونو ته خطاب | ٢٢ |
| د تاریخ په اوږدو کی د انسان ازادی | ٢٤ |
| د کاڼی کربنی | ٢٩ |





NLUPB e.V.
Post Box No. 190293
6 Frankfurt-Main 19
W. GERMANY


ولس غز 3مه ګڼه 1980 ع کال

**یادونه**: کېدای شي, چې د " ولس غږ " نورې ګڼې هم چاپ شوې وي. ما د (**ستوري کتابتون**) کېښې همدا درې ګڼې وموندلې. په درنښت

**نصیر ستوری Nasir Stori**

**جرمني: ویسلینګ ښار 18.06.2024**

**29غبرګولی 1403**

___

# Lamba Monthly Magazine "لمبه"

## Organ of National Liberation Union of)
## (Pashtoons and Baluchs in Frankfurt/ a.M







د پښتنو او بلوڅو د مل ازادی د تولنې خپرونه **"لمبه "** په ورکوټې اخباري بڼه DIN A4 په کچ په سپین کاغذ په څلورو مخونو کښې هره میاشت خپریدله.

لومړی ګڼه یا لومړی میاشتینی خپرونه یې د 1980 کال د جون په میاشت کښې تیت/خپره کړه. دویمه ګڼه یې جولای 1980, دریمه ګڼه یې اګست1980, څلورمه ګڼه یې سیپټمبر1980, پینځمه ګڼه یې اکتوبر1980 اووروستنی ګڼه یې نوامبر 1980 کښې چاپ او خپرې کړي دي

په " لمبه "کښې ځینې لیکوالانو په بدلو نومونو (مستعارو نومونو) لیکنې کړي دي.



- ۱ -

MONTH AUGUST YEAR 1980 — میاشت اګست کال اتیایم

# په کابل د مجلس ذره افغاني سرتیرو زوروره حمله

په کوټ کښې په ذرګونو دکتو په شکل جوړه - کابل ته آزاد تګ راتګ بند

دخرم نولندیز:-

لمبه (میاشتنۍ)

Editor
Monthly "LAMBA"
Marburger Str. 13
6-Frankfurt/Main
W.GERMANY



MONTH SEPTEMBER YEAR 1980 — میاشت. ستمبر کال ۱۹۸۰

# په افغانستان کښې د روسیانو د سرتیرو دلاسه

ترپوزی پوزی. په پاکه خاوره د کبیر یادیارلس ذره اسکر.

ببرک د روسیانو له خوا نظربند.

لمبه (میاشتنۍ)



MONTH.... NOVEMBER.. YEAR... 1980 — میاشت...... نومبر.. کال ۱۹۸۰

# پنځوس کلي ویران، واخان نبغ اداره کیږي


شوراوي اسکر په افغانستان کښې نبخوړے کیږي - په خونړي جنګ کښې ذر روسي اسکر مړه.

لمبه (میاشتنۍ)

د "لمبې" پته د لمبې په4م مخ کښې لیکل شوې ده

**یادونه**: کېدای شي, چې د "لمبه " نورې ګڼې هم چاپ شوي وي.
ما د **(ستوري کتابتون)** کښې همدا شپږ ګڼې وموندلې .
په درنښت
نصیر ستوری Nasir Stori
جرمني: ویسلینګ بنار
18.06.2024

# Khyber Wagma "د خیبر وږمه"




Adresse :

A.Halim Alkozy Oder S. Mahmud Abdi

8 München 40 8 München 40

Steinickeweg 7 Hohenzollernstraße 35

Wir sind für alle kritische Stellungnahmen und Fragen, die Sie an uns richten , dankbar.



لومړی کال - میاشتنۍ خپرونه — څلورمه گڼه، د ۱۹۷۵ کال د اگست میاشت

# دخیبر وږمه

د خپلواکۍ، خودارادیت او انساني حقوقو غوښتونکې
د امپریالیسم، استعمار او استثمار پر ضد مبارزه کوونکې
مجله


خپرونکی:
د پښتونستان او بلوچستان
کومیته په مونشن کې

د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ د ټولنې د ملګرو له خوا " د خیبر وږمه" پښتوژبه او د خیبر وږمه په الماني ژبه د "Khyber" تر نامه لاندې په مونشن

ښار کښې د پښتونستان او بلوچستان کومیټې د (DIN A5 په کچ) د مجلې په بڼه  په 14 مخونو کښې په سپین کاغذ  خپروله

لومړۍ, دوییمه او درییمه ګڼې یې نه لرم

د " خیبر وږمه " څلورمه ګڼه په 1975 کال اګست کښې  شپږمه ګڼه یې په 1975 اکتوبر کښې خپره شوې دي.






د خيبر وړمې الماني خپرونه هم په DIN A5 کچ د مجلې په بڼه په 14 مخونو کښې په سپين کاغذ  چاپ شوي دي.
لومړنۍ  الماني ګڼه يې په 1975 کال د مۍ په مياشت کښې او تر نومبر 1975 پورې يې 7 ګڼې چاپ شويده

د خيبر وړمې او Khyber پته د"خيبر وړمې" او "خيبر" پر پوښتۍ  هم ليکل شوي دي

يادونه: کېداى شي, چې  د " خيبر وړمې " او Khyber نورې ګڼې  هم چاپ شوي وي. ما د (ستوري کتابتون) کښې  د خيبر وړمې دوه ګڼې او د Khyber اوه ګڼې وموندلې .
په درنښت
نصير ستورى Nasir Stori
جرمني: ويسلينګ ښار
18.06.2024
29غبرګولى 1403

د استعمار مانو کې بيا ژړا شوه    تاله واله کور د افغان جوړيږي
پښتنو تاسو باندې زيرى کوم    خبر ئي شه؟ پښتونستان جوړيږي
( اجمل خټک )

## زيرى

د اولسونو د آزادۍ د مبارزې په تاريخ کې ځنې پيښې نه هيريدونکې او د هرې غارې د يادونې او اهميت وړ وي . دغسې د پښتنو او بلوچو د آزادۍ د مبارزې په اوږد تاريخ کې هم داسې د افتخار ډکې او ځليدونکې پيښې شته چه ځمونږ اولس پرې افتخار او وياړنه کولى شي .
په ١٩٧٦ م کال د جون د مياشتې شپږمه ورځ په يورپ کې او سيدونکې دلرا او برګ شمير پښتانه او بلوچ په دې برياليى شول چه وروسته له ډيرو جرګو مرکو او خبرو اترو نه د لومړى ځل د پاره (( په خارج کې د پښتنو او بلوچو د ملي ازادۍ د تولنې )) بنسټ چه د المان د اتحادى جمهوريت د فرانکفورت په ښار کې کيښودل شو يوه مهمه تاريخي پيښه ګڼل کيږي .
په خارج کې د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ تولنه که د يوې خوا دا وظيفه لرى چه د سيمينارونو ـ کنفرانسونو ـ غونډو او ميلمستياګانو د جوړولو او معلوماتي مواد و د خپرولو د لارې د پښتونستان او بلوچستان د خلکو د آزادۍ غوښتنې غږ د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسوى او د ټولو ډيموکراتيکو او مترقى هيوادونو ـ بين المللى تولنې ـ مترقي ډيموکراتيکو تولنو او وګړو مرستها و ملاتړ وګټي نو د بلې خوا به د خپلو خپرونو ـ غونډو او جرګو په ذريعه په افغان اولس کې د ملي شعور د راويښولو او د ملي آزادۍ بخښونکې مبارزې د پاره د تيارى هڅه هم وکړى .
مونږ د لرا او بر ټول افغان اولس ته هم (( په خارج کې د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ د تولنې )) د بنسټ ايښودلو زيرى او په دغه تولنه کې د غړيتوب او فعال کار بلنه ورکوو .

ځمونږ او سنى پته دا ده :

Nationale Vereinigung der Paschtunen und Balutschen
im Ausland

C/O.Liaqat Ali Khan
Leipziger Str.42
6-Frankfurt/Main
W.G E R M A N Y

فرانکفورت ۱۳ جون ۱۹۷۶م کال

په خارج کې د پښتنو او بلوڅو د ملي آزادۍ ټولنې له خوا

په افغانستان کې د پښتونستان او بلوچستان ملي آزادۍ غوښتونکې دیموکراتیکې جبهې ته!

ټولو مبارزو ملګرو!

په یورپ کې د پښتنو او بلوڅو د وطن پالونکو، په ملي آزادۍ او ملي وحدت مین کارکوونکو،
پوهانو (محصلانو) او زده کوونکو په منځ کې د ملي وحدت او ملي آزادۍ غوښتلو لپاره د څو کالو
را په دې خوا هڅې روانې وې، چې ځینې لیکنې او کتنې روانې وې. خو وروسته د دریو ګړو د
لومړي ځل لپاره په خارج کې د پښتنو او بلوڅو د ملي آزادۍ د ټولنې په بنسټ
ایښودلو چې ۱۶ د غبرګولي ۱۳۵۵ لمریز کال چې د ۶ د جون ۱۹۷۶م کال سره سمون خوري
بریالی شوه. زموږ دا بریالیتوب د پاکستان استعمار او فاشیزم، لوی او زوړ
استعمار او امپریالیزم او پلویانو ارتجاع په ضد د نماځنې او ویاړنې
تاریخي پیلیني څخه یو اقدام دی،

موږ د دې لوی بریالیتوب زېری تاسو، په افغانستان کې د پښتونستان
او بلوچستان ملي آزادۍ دیموکراتیکې جبهې لوړ غړو او لوړو مترقي ملي ګوندونو، ټولنو
وطن پالونکو، زحمت کښانو او په آزادۍ مین افغان اولس ته وړاندې کوو.

په خارج کې د پښتنو او بلوڅو ټولنه د مترقي سیاست په پیروۍ تاسو له لارې ګډ به
هر څه موږ زیات بریالیتوب وګټو. لوړه ارزو لرو چې تاسو موږ سره خپل
اړیکې ټینګ وساتئ. که تاسو خپل مشورې موږ ته رالېږئ ډیر به خوښ شو.
لوړه که تاسو کوم نشریات د پښتونستان او بلوچستان د ملي آزادۍ په هکله
لرئ موږ ته یې خبر کړئ.

لوړ موږ تاسو ته ستړو پیاوړو مبارزو او ملي آزادۍ غوښتونکې جنبش کې زیات
بریالیتوب غواړو.

مبارزه او جګړه روانه ده - بریالیتوب زموږ دی - ملي آزادي او ملي وحدت زموږ دی،
ملي او اجتماعي انقلاب زموږ دی، انقلابي تاریخ زموږ دی.

د ملي آزادۍ او ملي وحدت په لور

Nationale Vereinigung der Paschtunen und Balutschen im Auslan

c/o L.Q. Ali Khan
6 - Frankfurt/M
W. Germany

په خارج کې د پښتنو او بلوڅو د ملي آزادۍ ټولنه

# (N L U P B)

**National Liberation Union of Pushtoons and Baluchs.**

دلپښتنو او بلوچو
دملي آزادۍ ټولنه

No. 1024....
Date

نمبر ........
نیټه

## P R E S S E - M I T T E I L U N G

Die Nationale Befreiungsunion der Paschtunen und Balutschen in der Bundesrepublik Deutschland demonstriert am Samstag, dem 19.1.1980 in B o n n gegen die sowjetrussische Intervention in Afghanistan und für das Gründungsziel der Union: "Die Nationale Einheit und Unabhängigkeit für Paschtunen und Balutschen".
Die Mitglieder versammeln sich ab 12 Uhr am Hofgarten. Dort stehen auch Mitglieder des Presseausschusses der Union für Auskünfte zur Verfügung. (Kenntlich durch entsprechende Armbinden). Die Demonstration soll gegen 13 Uhr beginnen.

Zu Ihrer Information: Bereits im Jahre 1972 wurde in Peshawar the National Laboration Union of Pashtoons and Baluchs (NLUPB) gegründet. Sie war das Ergebnis der antikolonialen Bewegungen des afghanischen Volkes, die schon 1893 begannen, als Großbritannien einen Teil Afghanistans vom Mutterland abtrennte, willkürliche Grenzen -nämlich die sogenannte DURAND-LINIE zog - und damit die Paschtunistan-Balutschista Problematik schuf.

Mit der genehmigten Demonstration am Samstag, dem 19.1.1980 in Bonn will nun die am 6.Juni 1976 in Frankfurt am Main ins Leben gerufene Nationale Befreiungsunion der Paschtunen und Balutschen in der Bundesrepublik Deutschland - an der Paschtunen und Balutschen aus beiden Teilen des ehemaligen Mutterlandes teilnehmen - nicht nur gegen den Einmarsch der Russen in Afghanistan protestieren, sondern die Öffentlichkeit gleichzeitig auf das immer noch ungelöste Problem der Paschtunen und Balutschen aufmerksam machen.
Bitte, unterstützen Sie diese Bemühungen durch Ihre Berichterstattung.

Hochachtungsvoll

14.1.80

Die Nationale Befreiungs-Union der Paschtunen und Balutschen · Presseausschuß

Vorsitzender des Presseausschusses
A.Kabir Lal, Kaygasse 1
5000 Köln-1

National Liberation Union of Pashtoons & Baluchs
دپښتنو او بلوچو دملي آزادۍ ټولنه

Generalsekretär Khan,
Marburger Straße 13
6000 Frankfurt/M.

# (NLUPB)

**National Liberation Union of Pushtoons and Baluchs.**

دلښتنو اوبلوچو
دملی آزادئ ټولنه

No. 1027/80.
Date 28-2-80

نمبر ۱۰۲۸۰
نیټه ۸۰-۲-۲۸

Herrn
Werner Höfer
Westdeutscher Rundfunk
Internationaler Frühschoppen

5000 Köln 1

Sehr geehrter Herr Höfer !

Allem Anschein nach wird die sowjetrussische Intervention in Afghanistan und die Reaktionen darauf in der ganzen Welt die Medien noch eine zeitlang beschäftigen.
Sollten Sie in Ihrer Diskussionsrunde das Thema Afghanistan,insbesondere die Paschtunistan - und Balutschistan-Frage demnächst noch eimal erörtern, möchten wir unseren Vorsitzenden des Presse-Ausschusses,Herrn A.Kabir L a l, 5Köln -1,Kaygasse 1,als sachkundigen Gesprächspartner empfehlen.Herr L a l stammt aus Kuner in Ostafghanistan.
Herr Lal arbeitet seit 1973 bei der Deutschen Welle in Köln als freier Mitarbeiter im afghanischen Dienst. Dort können Sie ihn über den Telefonanschluß des Leiters des afghanischen Dienstes und stellvertretenden Leiter des Nahost-Redaktion,Herrn Peter W a l d ,Telefon 20 30 erreichen.

Herr Lal ist Mitglied der Rundfunk-Fernseh-Film-Union und im Besitz eines Presseausweises.

Herr Lal hat in Frankfurt /M. studiert .Er ist Diplom-Psychologe . Zur Zeit promoviert er bei Herrn Professor Scheiblecher an der Universität in Marburg über das Thema " Entwicklung eines kulturfairen Intelligenztests".

Wir würden uns freuen, wenn Sie bei nächster Gelegenheit auf unser Angebot zurückkommen und Herrn Lal in Ihre Diskussionsrunde einladen würden.

Mit freundlichen Grüßen

1.Sekretär L.K.Khan
6000 Frankfurt/Main
Marburger Straße 13

National Liberation Union of Pushtoons & Baluchs
دلښتنو او بلوڅو دملی آزادئ ټولنه

Präsident Ali Khan
3000 Hannover 1
Ander Tiefenriede 9

Ali Khan

23.1.1979 کولن

د پښتنو او بلوڅو د ملي آزادۍ د تحریک د څېړونو او نشریاتو د جرګې

له خوا:

ګرانو ملګرو! لکه څنګه چې مو تاسو ته مخکې هم لیکلي وو، دا ردی اوس بیا څرګندوو

چې د اولس د ځځ او لوړو څېړونو کار ډېر ضروري دی، یوازې موږ د دې لارې

نه کولی شو چې اولس را ویښ کړو او د خپلې تحریک وده او حقیقت

ورته ښکاره کړو. نو تاسو ته هیله کېږي چې د Samstag (خالي ورځ)

په ورځ چې د فروري د میاشتې دریمه نېټه ده، د غرمې په

دوه بجو د څېړونو او نشریاتو د جرګې په غونډه کې

چې د کولن په ښار کې کېږي، ~~[struck]~~ د دې غونډې ته د ټولو څانګو

د نشریاتو د پاره ټاکل شوي کسان (کس) ځان را ورسوي.

پته داده:

Kabir Lal
Kaygasse 1
5000 Köln 1

د پښتنو او بلو څو دملي ازادۍ دټولنې
د پنځمې لوئې جرګې پـــرو تـــو کول

د پښتنو او بلو څو دملي ازادۍ دټــو لنې پنځمه لو یه جرګه د ۱۹۷۹ کال
دستــمبر دمیاشتې په دوهمه نیټـــه په فرانکفورت ام ماین کښې د تـــو لنې دادارې
چارو دمشر لیاقت له خوا پرانستل شوه او دتـــو لنې دبیلو بیلو ځانګو دنمـــایند
ګـــانو باورلیکـــو نـــه ئې ولو ستل او نمایندګان ئې غو نډې تـــه وروپیژندل.
وروسته له هغې درایو په یووالی سره ډاکتر هما یون دغونډې مشر وټا کل شـــو
او بیا دغونډې دمشر په اجازه سره دافغانی پوهیدو نکو دعمومی اتحادی ملاتړلیک
ددغه اتحادی درالیزل شوې نماینده له خوا ولوستل شو. ملا تـــر لیك تــه د چك
چکو څخه وروسته دغونډ ی اجندا په لاندې ډول سره وټـــاکل شوه
۱) دمختلفو جرګه ګیو د مشرانو کلنی خبر
۲) تشکیلاتی مســـالی
۳) دتـــو لنی داصلاحاتی چارو سلاګانی
٤) دتـــو لنی دغړو دپاره دپیژندګلوی کارتو نه
٥) دمختلفو جرګه ګیو دنوو مشرانو ټاکـــه
٦) د تـــو لنی دغړو په هکله افغانی سفارت او نورو رسمی مقاماتو ته ځینی
چغلی ګانی ( داموضوع وروسته دغونډ ی په جریان کښی په اجندا کښی ونیول شوه)
۷) پریکړه لیك

) <u>دمختلفو جرګه ګیو دمشرانو کلنی خبر</u>
لو مړی دادارۍ چارو دمشر (سکرتر جنرال) لیاقت او بیا دپوهنیزو او کلتوری

اثارو دژباړی دجرګه ګی مرستیال شیر افضل او دخپرونی او نشریاتو دجرګه ګی د

چارو مشر کبیر خپل خبر غو نډی ته وړاندی کړ او همدغسی دبهر نیو متر قی

ډلو سره داړیکو د ټینګولو دجرګه ګی دمشر دمر ستیال شاجهان له خوا پرینښودل

شوی،راپور د علاوالدین له خوا ولوستل شو . وروسته بیا دکلتوری چارو ، جرګه ګی

دمشر دمرستیال نعیم ، دمالی چارو دجرګه ګی مشر اقبال خپل کلنی خبرونه

غو نډ ی ته ورکړل .

دټـو لنی دجرګه ګیو مشرانو او مرستیالانو پخپل وار سره دټـو لنی دنیمګړ تیاو

دلیری کولو ، دزده کړی دغښتلی کولو او په جر منی او نورو بهرنیو هیوادونو کښی

دپښتنو او بلو څو د ملی ازادی دټـو لنی دڅانګو دلاپسی تـنظیمولـو غو ښتنی

وکړی او پدی هکله ئی خپلی نظر بی او ابتکارو نه غو نډ ی ته وړاندی کړل .

دما لی چارو دجر ګه ګی دمشر اقبال دکلنی خبر له مخی دټو لنی ټول کلنی

عایدات ۱۸۳۵ جر منی مارکه او کلنی لګښت ۲۳۹۱،۸٦ جرمنی مار که کیږی

چه پدی تو ګه سره ټـو لنه ۹٥٦،۸٦ جر منی مار که پور ه وړی ده .

دکلنی خبرو نو دورکولو نه وروسته دمشرانو جر ګی خپله استعفا وړاندی کړه.

## ۲ ) تشکیلاتی مسالی

د ټو لنی دکارو نو دچټکوالی دپاره دټـو لنی دتشکیلاتو دپراخوالی په باره کښی

د مشرانو دجر ګی له خوا منل شوی پشنهاد چه دغا مله مجلس ( سیاسی

دفتر ) د جو ړ ولو منظوری وه داداری چارو دمشر (سکر تـر جنرال ) لیاقت

له خو ا لو ئی جرګی ته واړول شو او د مشرانو د جر ګی د پر یکړی سره

سم ئی ددغه مجلس ( سیاسی دفتر ) د جوړ ولو ضرو رت تہ ګو ته ونیوله

دغه پیشنهاد ( تجو یز ) دراپو په اتحاد سر ه د لو ئی جر ګی له خوا

ومنل شو او ددی منظوری ور کړ شوه چه د مشرانو د جرگی د غړو څخه دې

څو تنه ملګری د مشرانو د جرګی د رسمی غونډ ی د غړو درا یو په عادی

ډیر کی ( اکثریت ) سره د عا مله مجلس (سیا سی دفتر) دغړ و په توګه وټاکل

شی او درایو په یووالی سره ددی پریکړه وشوه چه عا مله مجلس د ټـولنی د

منشور سره سم په بهر او دننه کښی دټـولنی نمایندګی کوی او دټولنی چاری

پر مخ بیا ئی او یو ازی لو ئی جرګی ته مسئو لیت پغا ړه لری خو د مشرانو

د جرګی رسمی غونډه کو لی شی چه د دوه پر دری برخو درایو په ډیرکی سره

یو یا څـو غړی د عا مله مجلس په مو قعتیډول لیری کړی او په ځای ئی نور

وټـا کی خو اخر نی پر یکړه لو یه جر ګه کوی . د عا مله مجلس دو ره دیوه

کال دپاره ده .

همدغسی دټو لنی د مشر پیشنهاد د اقبال له خوا وشو . ددغه پیشنهاد دمنلو

څخه وروسته د کبیر په پیشنهاد سر ه علی خان د رایو په یووالی سره د ټـو لنی

د مشر په تو ګه د لو ی جر ګی له خوا وټـــــــا کـــــل شو او د د ه

دواك او مسئو لیت پو له ئی په لاندی ډول سره را ښکدله.

د ټو لنی مشر د عا مله مجلس غړی دی او دیو ه کال دپاره ټا کل کیزی او مجبوره

دی چه د خپلو ټو لو کارونو څخه عا مله مجلس ته خبر ورکړی او د عا مله

مجلس درایو په یووالی سره کو لی شی چه لو یه جر ګه راوغواړی او که څه ورته

پیښ شی کو لی شی چه د عا مله مجلس د غړو څخه یو تن د خپل نا ئب په

تو ګه وټاکی . د مشرانوجرګی رسمی غو نډ کو لی شی چه د دری پر څلورو

برخو درایو په ډیر کی سره دټو لنی مشر لیری کړی او په ځای ئی په موقعتی

تو گه بل مشر ونو ماوی خو اخر نی پریکړه یوازی لو یه جر گه کولی شی

٣) د تو لنی د اصلا حاتی چارو سلا گا نی

دټو لنی داصلاحاتو په هکله درایو په اتحاد سره دا پریکړه وشوه چه د ټو لنی نوی ټا کل شوی مشر علیخان دې په مختلفو ښارونو کښی دټو لنی دڅانگو دملگرو سره لیدنه کتنه وکړی او د اداری چارو د مشر لیا قت په سلا سره دې دلاری کرا یه ورکول کیزی تر څو چه د ملگرو په منځ کښی تماس زیات او کار مخ په وراندی لاړشی او همدار نگه د ملگر ی شا محمو د استعفا چه د مشرانو جر گی ته ئی وراندی کړی وه او عذر ئی د مشرانو د جر گی له خوا معقو ل گڼـل شوی و دلوی جر گی له خوا دلږ څه بحث څخه وروسته ومنل شوه

٤) دټو لنی دغړو دپاره دپیژندگلوی کار تونه

دټو لنی دغړ و دپاره دکارتو نو په باره کښی د لو ی جرگی درایو په ډیر کی سره ددې پریکړه وشوه چه په دغه مسا له دی دمشرانو د جر گی له خوا غور او څیړ نه وشی او ورو سته له هغی که ئی لازم وگڼل بیا دې چا پ شی .

٥) دمختلفو جر گه گیو د نوو مشرا نو ټا کنه

——— د اداری چارو د جر گه گی دمشر په تو گه لیا قت درایو په اتحاد سره بیا ددغه جر گهگی دمشر په تو گه تا ئید او نواز ئی د مرستیال په حیث وټاکلشو

——— د پو هنیزو او کلتو ری اثارو د ژباړی دجر گه گی دمشر په تو گه درویزه اڅکزی درایو په یووالی سره وټاکل شو

——— د خپرو نی او نشریاتو د جر گه گی د مشر په تو گه کبیر بیا د رایو په اتحاد سره تا ئید او شا جهان ئی دمرستیال په تو گه وټـاکل شو

ـــــــــ دبهرنیو متر قی ږلو سره داړیکو دتینګولو دجرګه ګی مشر شیر افضل او مرستیالئی شیرین درایو په اتحاد سره وټاکل شو

ـــــــــ دکلتوری چارو دجرګه ګی مشر عبدالحبیب حبیب او مر ستیال معین درایو په یووالی سره وټاکل شو

ـــــــــ د ما لی چارو د جر ګه ګی مشر اقبال"لالا"او مرستیالګی قاضی په خپلو دندو کښی بیا درایو په اتحاد سره تا ئید شو

ـــــــــ دلر او بر افغا ن سره داړیکو دجر ګه ګی مشر علاوالدین او مرستیال ئی نصیر درایو په یووالی سره وټـاکل شو

٦) دټو لنی دغړو په هکله افغانی سفارت او نورو رسمی مقاماتو ته چغلی ګانی پدی هکله دوخت دکموالی له امله مفصل بحثونه شو او کو مه پر یکړه منځ ته را نه غله خو دغه کار د غوندی د یو شمیر غړو له خوا سخت وغندل شو

٧) دلو ئی جر ګی خوا خو تنو ملګرو ته ددې دنده ورکړ شو چه دپریکړه لیك مسوده تیاره کاندې او د مشرانو د جرګی دملو څخه وروسته دې چاپ کړای شی

---

یادو نـه: لو یه جر ګه د ١٩٧٩/٩/٢ دماسپښین په پاوکم یوه بجه پیل او دماخوستن په ٩ بجو پای ته ورسیده

فرزند معصومه 24.11.79

د ستر اباسین په چوکاټ کې د مکتبونو ښار څومره دی؟ د اوسني حال لپاره چې د مکتبونو د ځینو

زیاتې شمېر حاضرې دي او شمېر یې 38 ۷ ته رسیږي؛ د فرزند معصومه په تمثیل کې د مکتبونو

د معمول ښار شمېر د مکتبونو د شروع په اول کې د مکتبونو مشروع تمثیل شو.

ددې لپاره د معلمینو د ~~[illegible]~~ ورکول شو.

۱- ډرامه: د مکتبونو ورکړه د ملګرو د محصلینو د دورې په تعقیب کې

په اساس غږ کړی د هغوی ورکول ~~[illegible]~~ په تمثیل شو.

۲- د تاریخ په اوږدو کې داسې کورونه.

پوهنتون مقامونو ورکړي د دورې محصلینو د مکتبونو د ځینو د خوا پیل د دورې اکثریت

ستره د ښوونځي د هغو د ملګرو او د نورو ښوونځیو ګډون او د ارګان

د اوس غږ لپاره نشر خپره او تمثیل شول.

National Liberation Union of Pashtoons & Baluchs
د پښتنو او بلوڅو
د ملي آزادۍ
ټولنه

د ګران ملي مشر اجمل خټک له خوا پښتنو او بلوڅو ملي آزادۍ ټولنې ته را رسيدلی ليک

---

خوږ و ملګرو !

د افغانستان د انقلاب نه به خبر شوي ئي • تاسو ټولو ملګرو ته د مبارك وي • دا انقلاب د افغانستان د عينی ، ذهنی ، داخلی او خارجی شرايطو محصول دی • ځکه چه توليدي مناسبات د توليدي قواوو په لار کی خنډ شوي دي • دې انقلاب د جاګرداری او قبائليت د يو تور او ظالم دور ته خاتمه ورکړه او د وطن نه د يو ظالم ، مستبد او مرتجع خاندان سيوري د هميش د پاره ختم شو •

داود د يو څو وطن پرستو پوځی افسرانو په مرسته د اقتدار کرسی ته ورسيد او د ترقی پسند ( مترقی ) قواوو له خوا حمايه شو • ده هم په اول کی د سلطنت لغوه کول اعلان کړل او چپ او ديموکراتيك تمائلات ئي وښودل • خو چه پښې ئي ولګيدې نو خپله اصلی او فريب کاره څيره ئي ظاهره شوه •

هغه ټول وطن پرستان ئي د حکومت د چوکيو نه لرې کړل او د هغوي په ځای ئي د امپرياليزم ايجنټان ، مرتجع ( reactionary ) رشوت خور ، د قاتلانو پرستان او د دغه ملی خائنی رټل شوي نادري کورنی افراد ئي راوستل •

د پښتنو او بلوڅو د ملی آزادۍ په مسئلو باندې ئي پښې راکاږلی • کله چه په ۱۹۷۵ م کال کی د ايران د دورې نه واپس راغلو نو نه صرف داخلی وطن پرستانو بلکه موږ پښتنو او بلوڅو مهاجرينو ته ئي سترګی بدلی کړې • او رورو په چل چل او طريقه طريقه ئي افغانستان د امپرياليزم جولی ته بوتللو او د طهران ، اسلام اباد او کابل د مثلث په فکر کی اخته شو • خو د دې پلان د سرته رسولو مقصد کی پښتانه او بلوڅ مشران او مبارزين حائل وو • ځکه د ، به ويل چه بوټو به سرې دي خو د پښتنو او بلوڅو مشران ضد کوي • موږ به ور ته ويل چه موږ ضد نه کوو بلکه بوټو فاشت دی • لنډ ، داچه داود د دې په تلاش کی وو چه څه وخت پښتانه او بلوڅ مشران د جيل نه راووځی نو به خپل ټول پلانونه سرته ورسوي • کله چه بو ټو تخته واړيده او زموږ ليډران خلاص شول نو ده د پښتنو او بلوڅو ټولی اساسی مسئلی پريښودې او موږ ته ئي خواب راکړ و چه ما خپل فرض پوره کړ و • اوس تاسو واپس لاړ شئ • دې دومره سامراج ته نږدې شو چه زړوه ډيورنډ لائن ومنی او سامراجی علاقائی تعاون پلان ته ور ننوځی •

په داخل کی خلك دومره تنګ شول چه هغوي د ظاهرشاه حکومت پسی ارمانونه شروع کړل • ملك ئي ټول فاشيزم خواته بوتلو او خپل ملی انقلابی حزب نه ئي د هټلر غوندې پوليسی کار اخيستل شروع کړل • ظلم ، ستم ، ترور او اختناق ئي دومره زيات کړل چه نفس اخيستل ناممکن شول • په لز و ورځو کی ئي ډير مترقی او وطن پرست خلك او زموږ دوستان لکه ډاکټر نياز محمد مومند ، ميجر احمد ، دين محمد او داسی نور قتل کړل او بيائی د هغوي خپل ملګري د قتلونو په تور ونيول •

اخر په ۱۷ د اپریل ۱۹۷۸ م کال استاذ میر اکبر خیبر د افغانستان د خلك دیموکراتیك گوند بانی لیډر او یو لوی وطن پرسته په رڼا منبام قتل کړ و او بیا چه پنځوسو زرو ( ۵۰۰۰۰ ) کسانو د هغه په جنازه کی گډ ون وکړ و ۰ نو د هغوی لسهتونه تیار شول چه گرفتار شی او د نوکریو نه پاسل شی ۰

په ۲۵ د اپریل ۱۹۷۸ کال د خلك دیموکراتیك گوند مشران ئی گرفتار کړ ل او د شلور سوو ( ٤۰۰ ) ترقی پسند و وژلو پلان جوړ شو چه پکی عسکری منصبداران هم شامل وو ۰

اخر د خلك دیموکراتیك گوند په لارښود نه او د اولس د غوښتنو او ارزو گانو په اساس او د فوځی ځوانانو د سربازی او جرئت له مخی په رڼا ورځ په ۲۷ د اپریل ۱۹۷۸ م کال داوُدی ظالم ، استبدادی او اختناقی حکومت۲۷ د ننه نسکور شو ۰

داوُد او نعیم د مقاومت له کبله او د نه تسلیمیدو په وجه قتل شول او نور ( ۷۰ ) تنه انقلابی او ضد انقلابی مړه او شهیدان شول ۰ چه پکی وزیر دفاع رسولی ، وزیر داخله قدیر ، هوائی قومندان محمد موسیٰ او معاون د صدارت او داسی نور ملی خائنان شامل وو ۰

د نوی انقلابی حکومت هدف ملی او دیموکراتیك انقلاب سرته رسول او د پښتنو او بلوچو د خود ارادیت حق گڼل دی ۰ دا زموږ د ټولو ملی او وجدانی وظیفه ده چه دا ملی او دیموکراتیك انقلاب کامیاب او دفاع کړ و ۰ تاسو دغلته پخپله طریقه د غرب د هر قسم ناوړ پروپیگنډی مخه ونیسی ۰ ځکه که دا انقلاب ناکام شو نو د سیمی او په مخصوصه توگه موږ ټول د همیش د پاره ناکام او ختمیږ و ۰

په ملگرتیا بری زموږ دی

**یادونه:** دالیك د اصلی لیك څخه ټایپ شوی دی

د پښتنو او بلوچو ملی ازادی ټولنه

National Liberation Union of Pashtoons & Baluchs
د پښتنو او بلوچو ملی آزادئی تولنه

**N L U P B**
Post Box No. 190293
6 Frankfurt-Main 19
W. GERMANY

د پښتنو او بلوڅو د ملي آزادۍ د ټولنې د مرکزي ارګان

"اولس غږ" د کمیسیون د دوهمې غونډې پروتوکول.

ګرانو ملګرو. نن د یکشنبې یعنې د اتوار ورځ د 1357

لمریز هجري کال د سلواغې د میاشتې نولسمه نیټه

ده چې د ۱۹۷۹ عیسوي کال د فروري د میاشتې د

څلورمې ورځې سره سمون خوري.

نن نهه بجې د کمیسیون له مشر له خوا رابللې د کمیسیون

په دوهمه غونډه کښې د پرون یعنې د لومړۍ غونډې

څه مخامخ پاتې شوې وو - چې نن د غونډې په دولس

بجې بېرته پیل اوشو - دا غونډه د کلي په ښار

کښې کېږي. غونډه د ملګرو په لاسونو پړک کولو

سره په جوش و خروش کښې شروع شوه - د ملګرو

د حاضرۍ کولو نه وروسته د اصولو مطابق د غونډې

مشر او ټاکلی شو- او رسمي غونډه صحیح په دولس

بجې پیل شوه- د مونږ له خوا دوه غړي ډیر لږ

غونډه کښې شمولیت درلودلو- د نورو ښارونو نه د

راغلو غړو شمېر داسې وو-

① فرانکفورټ ÷ دوه پیاوړي

② ډورټمنډ - یو غړی

③ مونسټر - یو غړی

④ هامبرګ - دوه غړي.

⑤ کلن - څلور غړي.

⑥ برلین - یو غړی

⑦ آخن - دری غړي

⑧ د مختلفو نورو ښارونو افتخاري غړو هم ګډون

اوکړو.

نومړي د برلن د ځانګړې خوا پو مضمون مارکسزم، لنینزم او ملي مسله

سرګټ لاندې مضمون وړاندې کړې شو. چه د اولس غږ د حساب

سره بشپړ سم وو. او د لشر وېر اوکړ ځید. د دې نه وروسته

سنه ده چه پوه شو سرګټ لاندې مضمون واوررولے شو.

چه هغه هم د ښر وېر اوکړ ځید.

د دې مضمونو نه وروسته د غونډې وخت هم پای ته اورسید.

او غونډه د ماز ګر په څلور بجو پای ته اورسیده.

د بلې غونډې لپاره فرانکفورټ اوټاکلے شو.

د غونډې وخت . څلور بجې .

ورځ - ۳ د مارچ 1979 د خالي ورځ.

د پښتنو او بلوڅو د ملي آزادۍ د ټولنې جرګه په ۱۲ د ۵، ۱۹۷۹
په ۳ ۴ دقیقو په فرانکفورت کې وشوه.

په دې جرګه کې دا لاندې ټکي (مضمونونه) ولوستل شوه.

۱ د کاڼي کرښنې: دا مضمون د لوه مشرۍ له خوا ولوستل شو چه په کې د پوهانو غوره او عمده نظرئ د ازادۍ او ازادۍ بخښونکو په هکله ویل شوي وه. مګر و هغه مقولې چه د وخت سره ئې سمون خوري د ټالو په اکثریت سره قبولې وشوه.

۲ سپینه دې چه پوه شو: دا مضمون چه د طبق، اشتمار، دولت جوړه ئې د تاریخ په اوږدو کې څېړله وه او شته د ضرورت او څنګه قبوله شو.
۳ د بری ښې او د بری بزخې: دا مضمون چه د مارکس د لمړي څېړونې زیاترین وه د ضرورت اترونه و په ورسته ئې قبولې وشوه.
۴ دوې جان سره د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ د لوه غوړي سره او د هغې نړۍ ځنې ټکې ولوستل شوې او د زیاتو مکلرو په خوښه سره ئې قبولې وشوه.
۵ د پښتنو او بلوڅو هغه مضمون، کوم چه د ماي د سیاسي د ملړي ورځې په هکله ئې لیکلي وه ولوستل شو او قبولې د اکثریت له خوا وشوه.
۶ د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ د ټولنې د لوه غوړي خاطرې چه په کوباڼي کې د بین المللي ځوانانو له خوا جوړې شوې وه ولوستل شوه او د ګډو نړیوال د مکلرو له خوا وشوه قبولې ئې و دا ټولنې حرکتې ته وخښل یې.

۷ یو پیغام، کوم چه د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ د ټولنې له خوا په افغاني سفارت کې د انقلابي کابینې په هکله جوړ شوې وه ولوستل شو.
۸ د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ و غوښتنې ته حالیږل شوي شعر ولوستل شو،

۹ د تاریخ په اوږدو کې د انسانانو ازادي. د مکلرو له خوا تائید شو.

10. د لوړې ماڼۍ هغه شعر چه د خیبر افریدیو له خوا د اولسي جرګې د پاره
د اپیل شوی و، ولوستل شو خو د ټولو په اکثریت سره رد شو
ځکه چه د وخت سره ئې مضمون نه خوړ.

11. یو پیغام چې د تیت پاڼې په شکل د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ د تحریک له خوا
د افغانستان د دیکتاتوریک حکومت په حالاتو جوړ شوی وو د مشرانو په اکثریت تصویب شو.

12. د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ ګوندونو ته د رحیم صاحب رسمي لیک چې د مشرانو جوړ شو
په اکثریت قبول شو.

13. د Darmstadt نه د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ ټولنې د غړي له خوا
د پښتونخوا او بلوچستان د ښار لیک ازادۍ د اپیل شوی مضمون چې
د مشرانو له خوا نه په اکثریت منل شو.

**د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ ټولنې د ناځاپي لويې جرګې د پرېکړې په اساس د جمهوري انقلابي**

**محاذ مشر او ملګري اجمل خټک په نوم يو ليک**

ګرانه مشره !

د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ ټولنې لويه جرګه د افغانستان د ملي او ديموکراټيک انقلاب په وياړ په ۲۷ او ۲۸ د مئ کال ۱۹۷۸ دايره شوه، او د افغانستان د اوسني انقلاب په برياليتوب د سرته رسولو د پاره زياتې خبرې وشوې. مونږ په دې هڅه کې يو چه څنګه به د افغانستان د خلک ـ ديموکراتيک ګوند د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ ټولنې د منشور سره سم د ګډ کار امکان برابر شي.

وروسته د ډېرو خبرو اترو لويې جرګې په اکثريت فيصله وکړه چه د اجمل خټک په واسطه د افغانستان د انقلابي خکومت سره خبرې وشي. او دوی د ټولنې د نمائنده په حيث د جبهې کار لاره برابر کړي. د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ ټولنې د لويې جرګې له خوا تاسو څخه د نمائنده په حيث دا غوښتنه هم کيږي چه د پښتونستان او بلوچستان ملي متحده جبهه او د داسې نور ملي مترقي تنظيمونو سره د يو ګډ پليټفورم د منځ ته راتلو د پاره امکانات ولټوی او د خپلو کارونو څخه مونږ ته خبر راکړئ.

د دې ليک يو نقل د افغانستان د خلک د يموکراتيک ګوند له خوا ټاکلی شوي د روغتيا چارو وزير ډاکټر شاولي ته واستول شو. او په عين خال کې د پښتونستان او بلوچستان د ملي متحده جبهې سره هم په دې باب د ليک په ذريعه رابطه ونيوه شوه.

په ملګرتيا.

د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ ټولنه

National Liberation Union of Pashtoons & Baluchs

NLUPB
Post Box No. 190293
6 Frankfurt-Main 19
W. GERMANY

د پښتنو او بلوڅو
د ملي ازادۍ د ټولنې

د خپرونو او نشریاتو
جرګه ګۍ

کولن : نیټه 25.5.80 نمبر 10

خوږو ګرانو ملګرو.

ژوندي او بریالي اوسئ -

د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ د ټولنې د خپرونو او نشریاتو جرګه ګۍ د اولس غږ د دریمې ګڼې آخرنۍ
غونډه په فرانکفورت کښې د لیسې (سه شنبې) په ورځ په ١٧.٤.٨٠ نیټه د غرمې په دولسو بجو
پیل کړې. تاسو ځنې هیله کیږي چه چې دې ورځ ارو رو په دې پته خان ته او ور سوی
LIAQAT- MARBURGER STR-13, 6 FRANKFURT/MAIN

او اوس یو خوږ خبر دی -

„لمبه“

د پښتنو او بلوڅو د ملي آزادۍ د ټولنې د شرانو جرګې چه په ١١.٥.٨٠ او ١٢.٥.٨٠ بانړۍ
په هایمبل بزرګ کښې شوې وه. د ګلو په موافقت سره د پوهنیز اخبار (جریده) چه نوم یې
لمبه ده د پښتنو او بلوڅو د ملي آزادۍ د ټولنې د خپرونو او نشریاتو جرګه ګۍ ته سپارښت ورکړل شوی
کړو چه د جرګه ګۍ له خوا مرور او ستاپل شو او په چټکتیا سره یې عملي قدمونه پورته کړل. د
لمبې مسؤل مدیر د اداري چارو شرایط او نها کلمشو -
ګرانو ملګرو - د دې اخبار واکمن مقام (امتیاز خاوند) د خپرونو او نشریاتو جرګه ګۍ ده
او مسؤل مدیر لیاقت ته د موادو د کنترول او اصلاح حق ورکړې شوې دی. تاسو ځنې
داهیله کیږي چه په هره څانګه کښې د لمبې د پاره خپل نمائندګي وټاکئ. که څنګه چه د کولن ځنې
انګارا پر یوې مقرر شوی دی. نمائنده ګان به د ملګرو مضمونونه، تبصرې او خبرونه وغیره
د لمبه مسؤل مدیر ته لیږي - پاهو خوړک کوی شي چه خپل مواد سیخ په پاسني پته او ولیږي.
چه د موادو انداز ه ملحال د یو مخ (د نیمافیر) ځنې زیاته نه وي. د لومړي قدم په توګه
د لمبه مخونه خلورډي لیږي دوه پا نړی. نو ګرانو ملګرو - تاسو ځنې هیله لیږي چه
ژر ژر خپل نمائنده ګان او نماکړ او د خبر دوی په چلولو کښې سره مرسته وکړئ د موادو
لیږلو لپاره د دې مباشرتون د مباشتې د بار لسمې نیټې پورې لیږلې شي.
نکره شی چه د قام او وطن په آزادولو کښې
ژر بریالي شو -

سرور
25.5.80

Die Nationale Befreiungs-Union der Paschtunen und Belutschen
Presseausschuß
ملګرتیا -

د پښتنو او بلو څو
د ملی ازادئ د ټولنې

د خپرونی او نشریاتو
جرګه ګئ

کولن : نیته ۷۹/۵/٤ لمبر ۳

---

د پښتنو او بلو څو د ملی ازادی د ټولنې د خپرونیاو نشریاتو د جرګه ګې
ټولو غړو ته !

ګران ملګرې په غو رځنګو نو !

د بشر په تاریخ کښی خپرونی او نشریات ډیر مهم رول لوبوی. نو په همدې
اساس زمو نږ د خپرونی او نشریاتو د جرګه ګې دو همه غونډه د مئ د
میاشتی په دولسمه نیته د شنبی (خالی) په ورځ د ما زیګر په څلور
بجې په 6Frankfurt /M.- Jügelstr. 1
کیږی . ټولو ملګرو ته زیات ټاکید کیږی چه خپل ټول غیر ضروری
کارونه شا ته او غور ځوی او پدې غونډه کښی هرو مرو ګډون وکړی ، ځکه
چه دغه داو لس غړ ددی کښی اخرنۍ غونډه ده .
کوم ملګری چه د څلورو بجو څخه د مخه فرا نکفورت ته ور سیږی هغوی
کولی شی چه د jügelstr.1 د دروازی په مخکښی انتظار
اوباسی او یا د شا محمود په کور کښی جمع شی پته داده
6 Frankfurt /M - Marburger str.13
( کینړ (کڼ) لاس ته تر ټولو پاس څنګ (تا لیږ) او وهئ)
یا دو نه ؛ د غوندی په دو همه ورځ به د مشرانو جرګه هم خپله
غونډه کوی

د پښتنو او بلو څو د ملی ازادی د ټولنې
د خپرونی او نشریاتو د جرګه ګې مشر

[illegible]

[illegible]

**National Liberation Union**
**of Pashtoons and Baluchs**

فرانکفورت
اکتوبر ۱۸ ، ۱۹۷۸

د پښتنو او بلوچو د ملي ازادۍ د ملګرو ځانګو غړو او خوږو ملګرو ته !

ګرانو ملګرو !

ښکاره ده چې په کال ۱۹۷۸ کښې د پښتنو او بلوچو د ملي ازادۍ د ملګرو لخوا یو سیمینار دائر شي. موږ د خالي او اتوار ورځې ( Samstag, Sonntag ) د دسمبر د میاشتې ۲۳، ۲۴ او ۲۵ نیټه پیشنهاد کړو. موږ د خوا ۵ د کلونو موضوع په حیث " په هیواد دننه ملي مسائل " پیشنهاد کیږي. په دې موضوع لاندې موږ لاندینۍ موضوعګانې ستاسو د ۵ منظورۍ په غرض وړاندې کوو.

۱. د بڼې خوا افغانستان د انقلاب تاثیرات د پښتنو او بلوچو د ازادۍ په تحریک باندې
۲. د لر او بر اولسونو په منځ کښې د سیاسي همکارۍ مفکوره.
۳. د پښتنو او بلوچو ملي مسئله او د ملي ازادۍ په سیمه او نړۍ کښې اهمیت.

د سیمینار د دائریدو د ځای په توګه دورتمند ( Dort-mund ) یا شتوتګارت او یا هائیدلبرګ د ۵ لومړي ~~[illegible]~~ او فرانکفورت یا کلن او یا برلین د دویم پیشنهاد په حیث ونیسو.

ستاسو نه هیله کوو چې د دغو موضوعګانو، د نیټې او ځای سره د موافقې په باب موږ ته ژر تر ژره خبر کړئ. او که څه ځانګې چې په خپل منځ کښې د سیمینار دائرولو تیاري ښکاره کوي. ښکاره ده چې ژر تر ژره مرکز ته خبر ورکړي.

درنښت

په ...

د پښتنو او بلوچو د ملي ازادۍ د ملګرو مرکز.

(Stamp: National Liberation Union of Pashtoons & Baluchs ★ — د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ)

د پښتنو او بلوڅو
د ملي ازادۍ د ټولنې

د خپرونې او نشریاتو
جرګه ګۍ

کولن : نیټه 21.5.79 نمبر ۵ -

ګرانو ملګرو -

څو ورځو نه : د ډېر سخت محنت نه پس د اولس غږ کار
د کولن څخه شروع او روان سو - تکړه شئ چه تاسو هم خپل بریالیتوب
لاس ته راوړئ - ځکه چه خونړۍ ورځې شپې روڼې کړې -

هدایتونه : اولس غږ د الماني او انګلیسي ژبې په برخلاف
د سنې نه کښې نه حساب کېږي - یعني دا د پرېس واله ته وشل
ضروري دي - ځکه نه چه د انګلش غونډې د کسن نه خپته د وله
حساب کېږي - دا وه پوه حصه ضرور - د الماني یعني پرېس واله د پاره
د کاغذونو په شا به پنسل نمبرې لیکلې شوې دي.

بله - د حساب نه مخکښې به سر برخه بشن د بڼې د لاندې خپل مهر او هم -

دریمه : دا د اولس غږ نمونه د دې د پاره ده - چه خو برخه داوې
کېښې به ځائې دوهم ګڼه لیکلې ده - یعني اوس به د دې نمونې په
شان حساب کېږي.

څلورمه : سر برخه به د دې نمونې په کاغذ د ننه ، نه لیکلې کېږي
بلکه ځان ته صفحه ورکړې شوې ده . او لګې به هم
داسې ځائې په ځائې دي - ټول نمونه 8 دي -

په درناوی - افتخار - د نشراتو او اداري چارو د څانګې مسئول

Liberation Union of Pashtoons & Baluchs.
د پښتنو او
د ملي آزادۍ
ټولنه

د پښتنو او بلوڅو د ملي آزادۍ د ټولنې ټولو څانګو ته !

ملګرو ! په دېرشم د سپتمبر د ۱۹۷۸ کال د پښتنو او بلوڅو د ملي آزادۍ د ټولنې مرکز

د تنظيمي کمېټې غونډه کې لاندې فيصلې وکړې، چې عملي کول يې د ټولو څانګو او غړو وظيفه ده :

۱- څرنګه چې اوس د چاپ په کېدلو خلاصي او تيار شوي دي، او موږ به هرې څانګې ته يو شمېر

اوس غړو ته ورولېږو، نو د څانګې دا وظيفه ده (ذمه واري) چې هر غړي ته اوس وراندې

او کوم اوس غړو ته چې پاتې کېږي، بايد په منظم ډول چې دا شو مره مخالف کېږي خو

کمپول شي او پليټ يې بيا مرکز ته راولېږل شي. کوم حقوق چې حفظ شي او اوس

غړو سره وي هغه شي تو قيمت ټولېږي.

علاوه پر دې موږ پدې هڅه کې يو چې دوهم اوس غړو هم زر راووړي، نو د ملګرو

نه هيله کېږي چې که کوم مضمون او خبر يا کوم شی ليکي بايد زر تر زره يې مرکز ته

راولېږي.

۲- لکه څنګه چې ټول ملګري پدې پوهېږي چې زيات شمېر پښتانه او بلوڅ هېوادونه (ملکونو) کې دېر

پښتانه او بلوڅ ژوند کوي او يا کار کوي، نو د څانګو (او هم د مرکز) او د څانګو غړو دا وظيفه

دي چې د ټولو غړو په مېلمه ځکلو کې کوښښ وکړي، او يا تماس ورسره ونيسي او کوم امکان

سره پېښه ترې واخلي او بيا موږ ته راولېږي، تر څو چې موږ خپل نشريات ورولېږو د

دلته هيله ده که څوک کومې يېزې او يا نه غړي کېږي موږ بايد د ټولو پښتنو او بلوڅو سره هر ډول

مرسته کومک وکړو، تر څو چې موږ د دوی لپاره ثبوت کړو چې موږ د دوی لپاره کار کوو.

۳- ملګرو ! موږ نه غواړو چې هم يو ځل درې ګڼي وه چې د اوس غړو د چمتوالي د کومېټې لپاره

مسئول شمېري انتخاب او موږ ته يې را معرفي کړي، تر څو موږ هېڅ څه رب نه وي

حاصل کړي، نو هيله ده چې پدې کار کې بېړه وکړي. په غور څنګلو تو

د ټولنې مرکز فرانکفورت

ګبر او شاهجهان

فرانکفورټ
د جنوري ۳۰، ۱۹۷۹

د پښتنو او بلوچو د ملي ازادۍ د ټولنې مشرانو ته

ګرانو ملګرو -

د پښتنو او بلوچو د ملي ازادۍ د ټولنې د مشرانو جرګه به ~~[illegible]~~ دريمه نېټه د مارچ د مياشتې په فرانکفورټ کې دائرېږي. ۴ د جرګې ملګرو په تجويز مونږ د مشرانو د جرګې د اجنډې د پاره د ټولنې اساسي مسائلو په تړ کې د 1979 کال د عادي لومړۍ جرګې د نېټې او ځای په باب غور يې پېشنهاد کړو.

لوړ په پای کې تاسو ته برياليتوب غواړو او هيله لرو چې مشران به په دغه نېټه د ماذيګر په څلورو بجو حاضر شي.

په ملګرتيا -

د پښتنو او بلوچو د ملي ازادۍ د ټولنې مرکز

د مشرانو د جرګې ځای.

Jugel Str. 1
Zim. 243
6. Frankfurt-Main.

National Liberation Union of Pashtoons & Baluchs.
د پښتنو او بلوچو
د ملی آزادئ
ټولنه

**NLUPB**
Post Box No. 190293
6 Frankfurt-Main 19
W. GERMANY

د پښتنو او بلوڅو
د ملي ازادۍ د ټولنې

د خپرونو او نشریاتو
جرګګۍ

کولن : نیټه 16-5-79 لمبر 4

~~کاپي~~ نقل:

ګرانو ملګرو -

غورځنګونو :-

ستاسو د لیک ډېره مننه - ځواب به یې هم بیا درکړو.

دا ډېره ښه خبره ده چه تاسو دا اوس نغه د صحافت په هکله خبرې اترې کړې - دلته اوس هم ګرمیان ډېر دي.

نو څونده دې شو ښار لو - چه تاسو ته ټول مواد د ځلور شپږ د ځی لورې در اولېږو.

اوس څونده لوړه کوشش شروع کړی دی چه د خپرو وقت لپاره تاسو ته ټول مضمونونه مرتب کړو -

په درناوی -

د خپرونو او نشراتو د جرګګۍ لش

او د دفتر مرستیال - [signature]

16-5-79

(NLUPB)

**National Liberation Union of Pushtoons and Baluchs.**

د پښتنو او بلوچو
ملي آزادۍ ټولنه

No. 1024....
Date

نمبر ..........
نیټه

## PRESSE-MITTEILUNG

Die Nationale Befreiungsunion der Paschtunen und Balutschen in der Bundesrepublik Deutschland demonstriert am Samstag, dem 19.1.1980 i Bonn gegen die sowjetrussische Intervention in Afghanistan und das Gründungsziel der Union: "Die Nationale Einheit und Unabhängigk für Paschtunen und Balutschen".
Die Mitglieder versammeln sich ab 12 Uhr am Hofgarten. Dort stehen auch Mitglieder des Presseausschusses der Union für Auskünfte zur V fügung. (Kenntlich durch entsprechende Armbinden). Die Demonstratio soll gegen 13 Uhr beginnen.

Zu Ihrer Information: Bereits im Jahre 1972 wurde in Peshawar the National Liberation Union of Pashtoons and Baluchs (NLUPB) gegründe Sie war das Ergebnis der antikolonialen Bewegungen des afghanische Volkes, die schon 1893 begannen, als Großbritannien einen Teil Af nistans vom Mutterland abtrennte, willkürliche Grenzen -nämlich di sogenannte DURAND-LINIE zog - und damit die Paschtunistan-Balutsch Problematik schuf.

Mit der genehmigten Demonstration am Samstag, dem 19.1.1980 in Bonn will nun die am 6.Juni 1976 in Frankfurt am Main ins Leben gerufene Nationale Befreiungsunion der Paschtunen und Balutschen in der Bund republik Deutschland - an der Paschtunen und Balutschen aus beiden Teilen des ehemaligen Mutterlandes teilnehmen - nicht nur gegen den Einmarsch der Russen in Afghanistan protestieren, sondern die Öffen lichkeit gleichzeitig auf das immer noch ungelöste Problem der Paschtunen und Balutschen aufmerksam machen.
Bitte, unterstützen Sie diese Bemühungen durch Ihre Berichterstatt

Hochachtungsvoll

14.1.80

Vorsitzender des
Presseausschusses
A.Zahir Lal, Langasse 1

Generalsekretär Khan,
Marburger Straße 13
6000 Frankfurt M.

د خپرونو او نشریاتو
جرگه گئ

د پښتنو او بلوڅو
د ملی ازادئ دټولنې

PRESSEAUSSCHUSS der
Nationalen Befreiungsunion der Paschtunen und Balutschen in der
Bundesrepublik Deutschland

لمبر

نیټه :

14. Januar 198o

An die
Deutsche Presseagentur dpa
Pressehaus 1 , Heuss-Allee

<u>53oo B o n n</u>

Sehr geehrte Damen und Herren,

beiliegend erhalten Sie eine Pressemitteilung mit der ganz herzlichen Bitte um überregionale Weiterleitung. Sie würden unserer Union durch die Verbreitung der besonderen Problematik der Paschtunen und Balutschen einen großen Dienst erweisen.

Mit freundlichen Grüßen

Die Nationale Befreiungs-Union der Paschtunen und Balutschen
Presseausschuß

Kabir Lal

Vorsitzender des Presseausschusses
A. Kabir L a l

Kaygasse 1
5ooo Köln-1

National Liberation Union of Pashtoons & Baluchs.
دپښتنو او بلوڅو د ملي آزادۍ ټولنه

د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ بخښونکې ټولنه

فرانکفورټ (ماین) د لویدیځ جرمني ښار

د جون د میاشتې یوولسمه نیټه کال ۱۹۷۷ ع (۱)

## په پاکستان کښې څه کیږي او د دې علتونه (وجوهات) څه دي.

د اولس او د ارتجاع تر مینځ چه کومې الې ګولې په پاکستان کښې شروع دي، دا د استعماري پاکستان په تاریخ کښې روښې واقعې نه دي. بلکه هیڅ یوه داسې ورځ، میاشت یا کال نشته چه د پاکستان د واکدارانو د خوا مختلف اولسونه خصوصاً پښتانه، بلوڅ او بنګالیان نه وي وهل تکول شوي. راځئ چه لږ د دې اړې ګړې د وجوهاتو د معلومولو په غرض د پاکستان د جوړښت تاریخ او په دې پورې د پښتنو او بلوڅو ارتباط ته یوه لنډه شان کتنه وکړو.

کله چه انګریز خپلې استعماري پنجې د هند په نیمه وچه (بر صغیر) کښې ټینګې کړې. نو د وي غوښتل چه د هند شاوخوا ملکونه هم د خپل لاس لاندې راولي او د افغانستان سره تر ډیرو جنګونو وروسته د افغانستان په یوه برخه نیولو بریالي شو. په ۱۸۹۳ ع کال کښې په زور د افغانستان په خاوره کښې په کرښه (کرخه) راخکلو سره دغه برخه په هند پورې د دوه صوبو یعنې شمال مغربي صوبه سرحد (پښتونستان) او بلوچستان په نوم وتړلې شوه. سره د دې هم د دې ځائي اوسیدونکو پښتنو او بلوڅو د استعمار سره تل جنګونه او د آزادۍ کوښښ کاوو. کله چه د دویم عالمي جنګ او په پښتونستان، بلوچستان او هند کښې د استعمار په ضد د سختې مبارزې د کبله انګریز په هند پریښودلو مجبور شو، نو د وي د خپلو ګټو ساتلو په غرض د مذهب په نوم د پاکستان جوړونکو ډله را پورته کړه او بیا د پښتنو او بلوڅو د رائې معلومولو دا د دوه صوبې (پښتونستان او بلوچستان) د نوي استعمار یعنې پاکستان په لاس ورکړې شوې. هم دا د پالیسۍ انګریزانو په بنګال کښې عملي کړه. دغه رنګ پاکستان د نیم بنګال، نیم پنجاب، نیم سند، د پښتونستان او بلوچستان په خاوره جوړ کړې شو. او کنټرول ئې د انګریزانو د بروژوا (سرمایه دارو) غلامانو په لاس ورکړې شو، کوم چه اکثره پنجابیان او د هند نه راغلي مهاجر وو. د وي د خپلو طبقاتي ګټو په غرض د بلوچستان، پښتونستان او بنګله دیش تولیدي وسائیل په پنجاب او کراچي پورې وتړل. او په نتیجه کښې بنګال نه یوازې د پاکستان بروژوا (سرمایه داران) د استحصال نه ځان خلاص کړو. بلکه د پاکستان استعماري تاریخ ئې د امریکې سامراج او د چین د سخت کومک باوجود د نیا ته رسوا کړو. د بنګال د آزادۍ نه وروسته د وي یوازې د پښتونستان او بلوچستان په لوټ کولو ګوتې پورې کړې. د دې د دوو سیمو ټول خام مواد او معدنیات لکه د سواني زمکني (ځمکني) ګیس (سولوګیس) کویله، مرمر، مالګه، زمرد، لرګي، چیني، تماکو، بریښنا (بجلي)، اوسپنه، کرومائټ، د لوخو (لوښو) سپینه خاوره، (chinaclay) پټرولیم او داسې نور څیزونه د مرکز تر کنټرول لاندې یا په بله معنیٰ د پنجاب په اختیار کښې دي. او ټول د دغه سرمایه دارانو د پانګې د بډولو په کار راځي. او هم دغه وجه ده، چه دا د وه سیمې هیڅ کارخانې نه لري، ځکه چه د پنجابي استعمار د ګټو سره اساسي تضاد لري.

د پښتنو او بلوڅو سره د سیاسي، کلتوري او اجتماعي ظلمونو نه علاوه د پاکستان د واکدارانو له خوا تعلیمي ادارې هم په اردو او انګلیسي چلیږي. په پښتو او بلوچي مورنیو ژبو تعلیم بیخي نشته او په سکولونو او کالجونو کښې یوازې اردو او انګلیسي ژبې زده کیدایشي. علم زده کول خو ځکه نا ممکنه دي چه ابتدائي ټولګي (کلاسونه) هم په اردو او یا په انګلیسي دي. نو د پښتنو او بلوڅو ماشومان څنګه د دې نه علمي ګټه اغستلی شي؟.

لنده دا چه ټول تعلیمی ، رسمی ، د دولتی او د لیك چاری بوازی په اردو او انگلیسی ژبو چلیږی چه پښتون او بلوچ اولس پر هیڅ نه پوهیږی . سره د دې انگلیسی ښځی پردی ژبه ده او اردو د هغه مهاجرو له خوا ویل کیږی ، هغه کوم چه د استعماری پاکستان د جوړیدو په وخت کښی د هند نه د اسلام په نوم راغلی و٘و. او د دې خلورو فیصدو کسانو ټولی دولتی چاری په لاس کښی نیولی وې . دا مهاجر هیڅ د دې وطن نه دی خو بیا هم زیات سیاسی او کلتوری امتیازونه او برتری لری .

د پاکستان د جوړښت نه وروسته پښتنو او بلوچو په سیمو کښی هغه د انگریزانو قانون او د پلوصیسی عملی ده او پښتون اولس په ځنې شکلونو کښی ویشل شوی دی ،
چه د مختلفو ایجنسیانو، قبایلی علاقو او ضلعو په نومونو یادیږی . هر تنظیمی شکل د بل نه جلا قانون لری . او د یوې ایجنسی یا قبائیلی علاقی نه بلی ته آزاد تگ راتگ بند دې.
پښتانه او بلوچ چه کله د ایجنسیو یا قبائیلی علاقی نه وځی او بلی ته ننوزی . نو داسی تلاشی او پښتنی ترینه کیږی ، لکه دې چه پردی ملك ته ځی . په قبائیلی علاقو کښی آزاد انتخابات هم نشته او نه د قبائیلو علاقو خلك په صوبائی حکومتونو کښی نمائندگی لری ، بلکه د وی مستقیماً د مرکز لاندی نیول شوی دی .

د پښتنو او بلوچو ټول سیاسی او سازمانی فعالیتونه بند دی . بنه مثالونه ئې د نیشنل ـ عوامی پارټی ، پښتون زلمی ، پښتون سټوډنټس فدریشن ، بلوچ سټوډنټس ارگانزیشن او او نورو ملی او د یموکراتیك تنظیمونه له مینځه وړل او څه د پاسه اته (۸) زره پښتانه او بلوچ بندی کول ، د پښتنو او بلوچو منتخبه حکومتونه رنگول ، څه موده پخوا د دیر عام قتل ، په بلوچستان کښی د پوځ اولس ترمینځ د پنځه کالو راهیسی مسلح جنگ ، د نیشنل ـ عوامی پارټی د مشرانو لکه: ولیخان ، بزنجو ، ارباب سکندر ، عطاالله مینگل ، خیربخش مری ، او نورو ملی مشرانو بندی کول د پنجابی د استعمار د ظلم ښکاره ثبوتونه دی .

## د پښتنو او بلوچو ملی آزادی کوم ملی او جهانی انقلابی ارزښتونه لری :

دا څرگنده خبره ده چه د نړی په اوسنی تاریخ کښی ملی آزادی بښونکی غورځنگونه غوره انقلابی ارزښتونه لری لکه :
۱ ) په جهانی سویه د استعمار ، امپریالیزم او نوی استعمار وړل او د حاکمیت ساحه ئې تنگیږی او د نړیوالې کارگری او اولسی انقلابو پرمختگ کی غوره رول لوبوی .
۲ ) په ملی سویه د ملی او د یموکراتیك انقلاب خاصیت لری چه په دی د ول سره کورنی ارتجاع او ور سره پیرته پاتی شوی تولیدی اقتصادی مناسبات له مینځه وړی . چه دا انقلابی پروسه نوی استعمار او د نالائقو نوکر حکومتو او د ولتو ته خاتمه ورکوی او پر ځای ئې ملی او اولسی د ولتونه مینځ ته راځی چه د هیواد د ترقی د پرمختگ د پاره لاره خلاصه او د بشری تولنی په جوړښت او د نړی د انقلابی قواوو فعال رول لوبول چه پدی د ول د نړی د انقلابی قواوو په مینځ کی جهانی کارگری ملاتړ او گډ کار د پاره ښه امکانات برابریږی.
نو د پورتنیو واقیعتو له مخی د پښتنو او بلوچو د ملی آزادی بښونکی غورځنگ ستر ملی او اولسی انقلابی حرکت دی چه پدی سیمه کښی پنجابی استعمار ، نورو بهرنیو نوی استعماری قوتونه خاتمه ورکوی . پر سیره پردی کورنی ارتجاع او د نوی استعمار نوکره حاکمه طبقه له مینځه وړی.

ژوندی دې وی د پښتنو او بلوچو د ملی آزادی بښونکی غورځنگ

ژوندی دې وی د پښتون او بلوچ اولس ملی او طبقاتی مبارزه

برباد دې وی پنجابی استعمار او د دوی تالی څټی

ژوندی دې وی د نړی د انقلابی قواوو او د مظلومو اولسونو په مینځ کښی جهانی ملاتړ

Die Nationale Befreiungs-Union der Paschtunen und Balutschen · Presseausschuß

Liebe Freunde und verehrte Anwesende !

Im N amen der Nationalen Befreiungsunion der Paschtunen und Baltuschen in der Bundesrepublik Deutschland danke ich allen, die unsere Protestaktion gegen die russische Invasion in Afghanistan unterstützen.
Die Nationale Befreiungsunion der Paschtunen und Balutschen, die zu dieser Demonstration aufgerufen hat, wurde im Jahre 1972 in Peshawar gegründet. Sie ist das Ergebnis der antikolonialen Bewegungen des afghanischen Volkes und hat den historischen Auftrag für die nationale Einheit und Unabhängigkeit der Paschtunen und Balutschen zu arbeiten. Dazu bedarf es einiger geschichtlicher Erklärungen:
Durch die Formierung der britischen Herrschaft auf dem indischen Subkontinent und durch die russische Expansion in Zentralasien geriet Afghanistan im 19.Jahrhundert aufgrund seiner strategischen Bedeutung in das Kräftespiel der beiden rivalisierenden Kolonialmächte. Die Abschirmung des englischen Imperiums in Indien gegen befürchtete russische Invasion bewog die Briten zu politischen und militärischen Eingriffen in Afghanistan.
Der erste Versuch Englands, direkte Kontrolle über das gesamte Kabuler Königtum auszuüben (1838-41), scheiterte am Widerstand des Volkes von Afghanistan. Unter dem Einfluß der verheerenden Niederlage im ersten anglo-afghanischen Krieg orientierte sich die britische Afghanistan-Politik zunehmend an dem bewährten Konzept des "divide et impera". Das heutige Paschtunistan und Balutschistan , die einen Bestandteil von Afghanistan bildeten, wurden danach von der Mitte bis zum Ende des 19.Jahrhunderts von Afghanistan in verschiedenen Etappen losgetrennt.

-2-

1849 wurden die Briten zum direkten Nachbarn Afghanistans, die sich zudem einige afghanische Gebiete einverleibten. Der 2.anglo-afghanische Krieg von 1878 bis 1882 endete formell mit dem Gandomak-Vertrag am 26.5.1879, durch den die Briten über die strategisch wichtigen ost- und südostafghanischen Gebiete Kontrolle erhielten und Afghanistan in seiner Außen- und Verteidigungspolitik in Abhängigkeit von England geriet. Dem damaligen Emir Abdur Rahmann (188o - 19o1) wurde am 12.11.1893 der sogenannte D U R A N D - Vertrag aufgezwungen, der die Aufteilung der Paschtunen und Balutschen zwischen dem heutigen Afghanistan und Britisch-Indien (dem heutigen Pakistan) vorsah. Damit wurde die Paschtunistan- und Balutschistan-Problematik geschaffen.

Meine Damen und Herren, es versteht sich von selbst, daß solche Verträge, die unter kolonialen Verhältnissen, also n i c h t unter gleichberechtigten Partnern zustande kamen, h e u t e n i c h t mehr haltbar und gültig sind. Die Ereignisse in der ganzen Welt beweisen das.

Eine völkerrechtliche Überlegung lautet, daß ein Vertrag als beendet gilt,"wenn sich seine Wirkung erschöpft hat und das Vertragsziel erreicht ist" [1]. Mit dem Abzug der Briten aus ihrer indischen Kolonie ist automatisch der sogenannte Durand-Vertrag als ungültig zu betrachten, denn einer der Kontrahenten hörte auf zu existieren und damit ihre Zielvorstellung, das englische Empirium in Indien gegen befürchtete russische Invasion abzuschirmen.

Daraus folgt, daß die Frage der Gültigkeit der sogenannten DURAND-Linie offen ist.

[1] Völkerrecht (Lehrbuch) 2.Bd., Bd. 1 Berlin 1973 , S.252

Beiderseits der sogenannten DURAND-Linie , die nur theoretisch auf der Landkarte gezeichnet ist und praktisch nicht existiert, wohnt ein Volk: die Paschtunen, ein Volk mit der Einstellung zur eigenen Nation, mit einem Bewußtsein, von seiner geschichtlichen Situation und seinen grundlegenden Interessen, ein Volk mit einer eigenen Geschichte, einer reichen Kultur und Literatur, einem langjährigen Kampf gegen die externe Unterdrückung, einem Identitätsbewußtsein, einem geographisch zusammenhängenden Wohngebiet und dem politischen Willen zur Etablierung eines unabhängigen eigenen Staates .

Meine Damen und Herren, das war ein Teil unserer Geschichte, die beweist, daß der Freiheitswille des afghanischen Volkes auch nicht durch die russische Aggression vernichtet werden kann. Lieber Tod als Sklave sein!

Aber wir stehen mit leeren Händen gegen die russischen Invasoren. Wir bitten deshalb alle freiheitsliebenden Menschen der Welt unser Volk gegen die russischen Aggressoren zu unterstützen. Heute ist Afghanistan der Schauplatz der russischen Expansion, wo wird er morgen sein? Deshalb lassen Sie uns gemeinsam unsere Freiheit verteidigen.

Wir fordern die sofortige Verwirklichung des UN-Beschlusses und den Abzug d er russischen Truppen aus Afghanistan.
Es lebe der nationale Befreiungskampf des afghanischen Volkes.

Bonn, 19,Januar 1980

د پښتنو او بـلو څــو
د مـلی ازادئ د تـولنے

د خــپـرو نی او نشریاتــو
جــر ګــه ګــئ

PRESSEAUSSCHUSS der

Nationalen Befreiungsunion der Paschtunen und Balutschen in der Bundesrepublik Deutschland

نـیـتـه :　　　　　　　　　　　　　　　لـمـبر

کولن ،　۱۸/۱/۱۹۸۱　　　　　　　　۱

---

د پښتنو او بلوڅو د ملی ازادی د تولنی دلمبی مياوری مدير ښاغلی لياقت وطنپال

په لوفورمخنګو نو

تقريبا دوه مياشتی کيږ ی چه لمبه دقام او وطن دښښمنانو زړو نه نه سيزی او مره غو ندی ښکار ی . د طن دازادی شمع " لمبه "پکارده چه تل بليږی .
هيله ده چه دلمبی دنه راوتو په ځلتو نو په باره کښی ژر تر ژره معلو مات راکړی

په درناوی

د خپرونی او نشرياتو د جـرګی مشر

**NBUPB**

Nationale
Befreiungsunion
der Paschtunen und
Balutschen

د پښتنو او بلوچو
د ملی آزادئ تولنه

DIE NATIONALE BEFREIUNGSUNION DER PASCHTUNEN UND BALUTSCHEN IN DER BUNDESREPUBLIK DEUTSCHLAND RUFT ZU EINER DEMONSTRATION AM 19.1.1980 (Beginn: 12 Uhr am Hofgarten) GEGEN DIE RUSSISCHE INVASION IN AFGHANISTAN AUF!

Im Dezember 1979 wurde Afghanistan von russischen Truppen besetzt, unter dem Vorwand, von der sogenannten afghanischen Regierung zu Hilfe gerufen worden zu sein. Bei dieser Regierung handelt es sich aber nicht um eine von der Mehrheit akzeptierte oder gewählte Volksvertretung, sondern um ein von den Russen eingesetztes Marionettenregime. Diese "Regierung" vertritt nicht die Interessen des afghanischen Volkes, sondern hilft der Sowietunion aus Afghanistan eine russische Kolonie zu machen. Unseren nationalen Stolz kann man aber nicht mit Waffen brechen oder mit Geld kaufen.

Wir fordern alle Paschtunen, Balutschen und anderen Afghanen auf, den Russen genauso eine Lektion zu erteilen, wie wir sie 1919 der englischen Kolonialmacht erteilt haben.

Laßt uns einem alten afghanischen Sprichwort folgen, welches besagt:

Wasser läßt sich nicht mit einem Messer trennen!

Nieder mit der russischen Invasion!

Es leben die Befreiungskämpfer Afghanistans!

Wir wollen keine Fremdherrschaft in Afghanistan!

Wir fordern alle demokratischen Kräfte der Welt auf, unser Volk gegen die russische Invasion zu unterstützen!

National Liberation Union of Pashtoons & Baluchs

## د پښتنو او بلوچو د ملي آزادئ تولني پوښتنې ته د گران مشر ولي خان ځوابونه

۱ ) ماته پښتون او افغان يو دی او په دې نوم مو مبارزه کړی او کووئی .

۲ ) که سپوره وی او که پوره وی خو په ګډه به وی خو مثالونه ئی د حپلو انتخاباتو څخه راوړل او دائی هم زياته کړه چه زموږ مبارزه په عمل کی طبقاتی ده .

۳ ) موږ د شرايطو سره سم په ډګره د افغان په نوم مبارزه کړی او د روان فرهادی مثالونه ئی راوړل .

٤ ) بنګاليان را پاځيدل ټول په مجيب الرحمان پسی ولاړو و په موږ پسی پښتانه ندی ولاړ . لنډه داچه دا ځکه د پښتنو غير منظموالی دی او په دری مختلفو سياسی سيمو کی ژوند کوی چه منظموالی ئی ډير وخت نيسی .

٥ ) موږ تر حپلی وسی پورې پوره ملی مبارزه کړی حو د سيمه اير سياسی جوړښت له کبله نيمګړی ده . چه پدې باب ئی د خيبر د څڅير د شيکولو مثال راوړ .

٦ ) تر ١٩٥٤ م کال پورې ټول بنديان وو او بله ډله نه وه چه مبارزه ئی کړی وی . پس لدې يو يونټ راغی چه د ايوب د ديکتاتوری تر احره پورې ئی دوام وکړ .

۷ ) موږ سياسی او تيوريکی منظمه مبارزه کړی ده . همدا سبب دی چه موږ ټول بنديخانی ته تللی يو او هر ډول قربانی مو ورکړی دی .

۸ ) په موجوده وخت کی د وسلوالی مبارزی شرايط برابر ندی .

۹ ) موږ د قومی اتحاد د ګوندونو سره کوم نظرياتی تړون نه لرو بلکه د بوتو فاشيزم له منځه وړلو د پاره په ګډه مبارزه کړی لکه د هټلر فاشيزم په ضد لويو قوتونو کړی ده .

۱۰ ) په موجوده وخت کی بله هيڅ لاره نشته .

۱۱ ) پوځی حکومت خلکو ته ديموکراتيت حقوق نه ورکوی بلکه اولس حپل حقوق په زور وګټی . (بايد)
دې پوځی حکومت موږ د يو تباه کوونکی مرض څخه خلاص کړو چه هغه د بوتو فاشيزم نسکورول وه .

۱۲) اوس ئی د افغانستان د ملی او ديموکراتيک انقلاب پواسطه وخت تير شو .

۱۳ ) موږ د سوبه ئی خود مختاری د ګټلو د پاره مبارزه کوو .

۱٤ ) د وارو رموږ مسئله مختلفو هيوادونه او په ملګرو ملتو کی یادوری کړی ده .

۱٥ ) دا پوښتنه د کابل نه وکړی .

۱٦ ) اوس ئی وخت تير شو .

۱۷ ) راتلونکی وخت به ئی هرڅه وښئ .

۱۸ ) که روابط به وی د لر او بر افغانانو په منځ کی تماس زيا تيږی .

۱۹ ) د شاهنشاه سره قومی اتحاد سره د جنرال ضياء الحق ليدنه کړی . شاهنشاه وويل چه د پاکستان سالميت ته مو بايد پام وی .

ځواب [illegible] خوښنه د ستا د ښه نیت څخه . خو دا زموږ کورنی مسئله ده . بوټو پاکستا ن
د [illegible] . اوس چه دی لیرې شو خطره ئی کمه شوی ده .
( ۲۰ ) [illegible] حکومت همه وخت جوړیدای شی چه د بوټو صفائی وشی او د اولس له خوا جمهوری
( [illegible]کراسی ) حکومت جوړشی .
( ۲۱ ) دا مسئولیت د یو سړی له خوا امکان نه لری . خو د ډلی له خوا به زموږ په گټه وی .
( ۲۲ ) ماته معلوما ت نشته او که وی زموږ په گټــه ده .
( ۲۳ ) د برگ سپي او سپی مثال ئی راوړ .
( ۲٤ ) د شرایطو سره سم د هر ډول مبارزې ملا ترکوو .
( ۲٥ ) کوم نظری اختلافات نشتــه .
( ۲٦ ) د لراوبر افغانستان څخه پوهیدل دی .
( ۲۷ ) د بلوچو مسئله نسبت مورته پیچلی ده . د وی یوگډ سیمه ایز ژوند نه لری . زموږ او د دوی
آزادی یو تر بله سره تړلی دی . د ایران سره خبرې ډیرې وروسته دی .
( ۲۸ ) که سپوره وی که پوره وی خو په گټه به وی .
( ۲۹ ) دا بیان ما د المان اتحادی جمهوریت سفیر سره په یوه مرکه کی ویلی دی چه دا پنجابیان
دی . نیشنل عوامی پارټی په پنجاب کی هیڅ سیټ ( پارلمانی چوکی ) نه لری . د پښتنو
څخه زه دلته خبر شوم چه پښتانه هم راغلی دی .
( ۳۰ ) زموږ په گوند باندې پنجابیانو او مهاجرو همیشه تجارت کړی دی . دا ځکه چه د وی
تول[واک] او اختیار پخپل لاس کی کړی دی نو دا کارونه کوی .
( ۳۱ ) ولی خندل نور زیات څه ئی ونه ویل .
( ۳۲ ) په غیر د ملی یووالی زموږ مبارزه هیڅ مانا نه لری . خو د ځنځیر شکول د یوې خوا نه کیږی .
( ۳۳ ) ملی دیموکراتیک گوند په نوم مبارزه کوو ( NDP )
( ۳٤ ) مور همیشه د افغان په نوم مبارزه کړی او کووئی د مثال په توگه ئی د پاکستانی ژورنالیست
د سوال په ځواب کی ویلی وو چه زه د شپږو زروکالو پښتون یم زرکاله مسلمان یم او د رش
کاله پاکستانی یم فیصله تاسو وکړی چه په اصل څوک یم . نورئی د روان فرهادی مثال راوړ .
( ۳٥ ) د دې نظرئی د پاره یوه ډله شته ده . زموږ سره یوځای کار نه کوی او په اولس کی
هیڅ نفوذ نه لری .
( ۳٦ ) د برگ سپي او سپی مثال ته ئی اشاره کړه .
( ۳۷ ) زموږ د گوند منشور ولولی .

٣٨ ) تراوسه پورې موږ کوم تماس نه لرو .

٣٩ ) دا سوال د سوسیالیستي هیوادونه وکړی .

٤٠ ) د اجمل نه پوښتنه وکړی .

٤١ ) که څوك وی مخ ته د شي موږ ور پسي یو .

٤٢ ) موږ د دې کار دپاره مبارزه کړې لکه څنګه چه ١٩٣٦ م کال نه تر ١٩٤٤ م کال پورې ټولی ښوونځی ( سکولونه ) په پښتو ملی ژبه وې . خو اوس دا کار هغه وخت امکان لری چه سیاسی قوت زموږ په لاس کې راشي .

٤٣ ) په پورتنی سوال کی ځواب درکړی شوی دی .

٤٤ ) موږ د تاسو سره پوره ملا تړ کوو .

د پښتنو او بلوچو د ملی آزادۍ ټولنه

National Liberation Union of Pashtoons & Baluchs

# د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ ټولنې ناڅاپي لوئی جرگې پروتوکول

دا ناڅاپي لویه جرگه د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ ټولنې د مشرانو د جرگې د پنځم د فروري ۱۹۷۸ م کال په فیصله فرانکفورت ته رابلل شوې او په ۱۹ د فروري په فرانکفورت کې دایره شوه . پدې لویه جرگه کې د غربي برلین ، کلن ، شتوتگارت او فرانکفورت د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ ټولنې څانگو په رسمي توگه گډون کړی وه . برسیره پردې د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ ټولنې نورغړي د هانور ، هایدل برگ ، ماربورگ او نورو افغاني پوهیدونکو او افغانانو گډون کړی وه .
په لویه جرگه کې لاندې اجندا وټاکل شوه :

( ۱ ) د منشور د ځینو مادو په واضح کولو خبرې

۲ ) د ځینو غړو ایستل

۳ ) د خپل وطن په اوسني حالاتو باندې غور او بحث

٤ ) په راتلونکي وخت کې د غړو نیول

د نمایندگانو د ټولو رایو په ورکړه پورتنۍ اجندا فیصله شوه .
د اجندا په لومړني مادې باندې ژور بحث وشو او د مادې په واضح کولو پریکړه وشوه .
د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ ټولنې د منشور د ( ۱۹ ) مادې لومړۍ برخې څخه پوهیدل په لاندې ډول دي :
د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ ټولنې مبارزه د مترقي فلسفې د پرنسیپونو په اساس د ټول اولس ( د لر او بر اولس ) د پاره ملي او طبقاتي غبرگه او نه بېلیدونکې ده .
د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ ټولنې د منشور ( ۱٦ ) مادې په اخرکې د نمایندگانو لیږلو ته تغیر ورکړی شو چه په لاندې ډول دي :
د دیو غړو څخه ترلسو پورې د وه نمایندگان او پس له لسو څخه تر څلوېښتو غړو پورې په هرو لسو یو نماینده زیات رالیږلی شي چه ټول پنځو تنو ته رسیږي . د څلوېښتو څخه تر سلو غړو پورې په هرو شلو کسو یو نماینده لیږلی شي چه ټول اته تنه نمایندگان کیږي . د سلو څخه تر زرو غړو پورې په هرو سلو یو نماینده زیات رالیږلی شي او د زرو څخه وروسته په هرو زرو غړو یو نماینده زیات رالیږلی شي .
۲ ) د ځینو غړو ایستل
لوئی جرگې د اجندا په دویمه ماده ژور بحثونه وکړل . د بحثونو په نتیجه کې لوئی جرگې دا ډول پریکړه وکړه :
لوئی جرگې د پښتنو او بلوچو د ملي آزادۍ ټولنې د فرانکفورت څانگې ته واک ورکړ چه د ځینو غړو لکه عیدمیر ، نظام او قیوم په ایستلو او یا د غړو په توگه د پاتې کیدلو واک او اختیار لري .

د غړو ایستل یوازې لویه جرګه کولی شی . خو که لوئی جرګی کومی څانګی ته د غړو ایستلو او یا پاتیکیدلو واك او اختیار ورکړ نو پس له هغه نوموړی څانګه د غړو د ایستلو او پاتیکیدلو پریکړه تر بلی لوئی جرګی پورې کولی شی .

۳ ) لوئی جرګی د خپل وطن په هکله په سیاسی او اجتماعی حالاتو ژور بحثونه وکړل او دا ئی څرګنده کړه چه ورځ په ورځ د پښتنو او بلوچو د ملی آزادی او ملی یووالی غورځنګ او مبارزه په ډیره چټکتیا مخ په وړاندې روانه ده او برسیره پردې لوئی جرګی پریکړه وکړه کله چه ولی خان یورپ ته راشی د پښتنو او بلوچو د ملی آزادی ټولنی له خوا به بلنه ورکړه شی .

٤ ) د پښتنو او بلوچو د ملی آزادی په ټولنه کی د غړو شاملیدل شپږ میاشتی ازموینتی وخت لری . کله چه پدې موده کی غړی د پښتنو او بلوچو د ملی آزادی ټولنی په سیاست او منشور پوره پوه شول او د ملی هدفونو د سرته رسولو د پاره ئی عملی مبارزه کوله نو د مشرانو د جرګی له خوا په رسمی غړی نیول کیږی .

په استثنائی توګه د مشرانو جرګه کولی شی چه د غړو ښو اعمالو او کړنو له کبله د رسمی غړی په توګه د هغه د ازموینتی دورې په وخت کی ونیسی .

د پښتنو او بلوچو د ملی آزادی ټولنه

National Liberation Union of Pashtoons & Baluchs
د پښتنو او بلوڅو
د ملی آزادئی
ټولنه

(N L U P B)

**National Liberation Union of Pushtoons and Baluchs (e.V.)**

د پښتنو او بلوچو
د ملي آزادۍ ټولنه

No ..............
Date

Frankfurt/Main
21. 6. 1981 ............

نمبر
نیټه

An die zuständige Stelle für die
politische Asylanerkennung

Der Vorstand der Nationalen Befreiungs-Union der Paschtunen und Balutschen e.V. bestätigt, daß Herr Liaqat Ali Khan Gründungsmitglied und seitdem Vorsitzender dieser Union ist. Es ist deshalb gefährlich für ihn, nach Pakistan ausgewiesen zu werden.

Am 19. Januar 1980 fand in Bonn unter seiner Leitung eine Demonstration der Union gegen den russischen Einmarsch in Afghanistan statt. Auf dieser Kundgebung hielt Herr Liaqat Ali Khan zum Abschluß eine Rede. In der Geschichte der Union hat er einen guten Lebenslauf, auch unterhält er gute Beziehungen zu den Nationalführern der Paschtunen und Balutschen.

Eine solche bekannte Person, die für die nationale Befreiung und Unabhängigkeit der Paschtunen und Balutschen arbeitet, hätte im Falle seiner Ausweisung nach Pakistan nicht nur mit der Verfolgung durch die pakistanische Regierung zu rechnen, Herr Liaqat Ali Khan müßte auch Angst um sein Leben haben.
Wir bitten deshalb die zuständigen Stellen der deutschen

Asylbehörden , unseren Vorsitzenden in der Bundesrepublik Deutschland Asyl zu gewähren und damit ihr menschliches Mitgefühl für die Sache der Paschtunen und Balutschen zu beweisen.

Unterschrift und Anschrift der Vorstandsmitglieder des N L U P B e.V.

Nationale Befreiungsunion
der Paschtunen und
Balutschen (NLUPB) e.V.
- Presseausschuß -

د پښتنو او بلو څو
د ملی ازا دئ دتولنې
د خپرو نی‌او نشریاتو
جرګه

2 لمبر

کولن 3.4.1981 : نیټه

---

دپښتنو اوبلوڅو دملی ازادئ دتولنی دخپرونی اونشریاتو دجرګی ټولو غړو ته

ګران ملګری په غورځنګونو

دوطن اوقام دیووالی اوزادئ رسالت چی زمونږ دتولنی پغاړه دی ډیرکارغواړی نو مونږ ته ډیر کار پکار دی. یو سترګام پدی لاره کښی خپرونی او نشریات دی لدی امله خپرونو اونشریاتو ته ډیره پاملرنه پکار ده .

دپښتنو اوبلوڅو دملی ازادئ دتولنی دخپرونی اونشریاتو دجرګی غو نډه د اپریل دمیاشتی په دولسمه نیټه (۱۲) چی داتبار (یکشنبی) ورځ ده دمازیګر په څلورو بجو په فرانکفورت کښی کیږی . پته(درك) دادی

Liagat ALi Khan "Watanpal"
Marburger Str. 13
6 Frankfurt/M
Tel. 0611/706350

دغونډی اجندا پدی ډول ده:

۱) داولس غږ د چاپ ربړه
۲) دلمبی دنوی مدیر ټاکنه

دټولو ملګرو څخه چی دخپرونی اونشریاتو دجرګی غړی دې ددی هیله کیږی چی خپل غیری ضروری کارو نه پریږدی او په دغه غونډه کښی خامخا ګډون وکړی.

په بری

دپښتنواوبلوڅو دملی ازادی دتولنی
دخپرونی اونشریاتو د جرګی مشر

Die Nationale Befreiungs-Union der Paschtunen und Balutschen
Presseausschuß
e.V.

د پښتنو او بلوڅو
د ملي ازادۍ د ټولنې

د خبرونو او نشریاتو
جرګه ګۍ

کولن : نېټه ۷۹/۱۱/۱۵ لمبر ٦

---

دپښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ د ټولنې د خبرونو او نشریاتو د جرګه ګی
ټولو غړو ته

ګران ملګری په غور رځنګو نو

خرنګه چه خبرونه او نشریات د ټولنې ژبه دی . د دې د پاره چه زمونږ
ټولنه فعاله او ژوندۍ وي نو اولس غږ ته ډیر کار پکار دی . زمونږ د خبرونو
او نشریاتو د جرګه ګی د ریمه غونډه د دریم اولس غږ د مضمونو د کنټرول د پاره
د ددې روانی (November) میاشتی په ۲٤ نیټه د خالی په ورځ د مازیګر
په پنځو بجو په فرانکفورت کښی د اداری چارو د مشر لیاقت په کورکښی کیږي
پته داده

6 Frankfurt/M
Marburger str. 13

ټولو ملګرو ته زیات تاکید کیږي چه خپل ټول غیری ضروری کارونه شاته
واغورځوی او پدې غونډه کښی هرو مرو ګډون وکړی او هم خپل او د نورو
ملګرو مضمونونه د ځان سره راوړی .

دپښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ د ټولنې
د خبرونو او نشریاتو د جرګه ګی مشر

د پښتنو او بلوڅو د ملي آزادۍ د ټولنې جرګه په ۱۲ د ۵، ۱۹۷۹
په ۱۲:۳۰ دقیقو په فرانکفورت کې وشوه .

په دې جرګه کې دا لاندې ټکي (مضمونونه) ولوستل شوه .

۱ د کانفرنس : دا مضمون د لوه مشرې له خوا ولوستل شو چه په کې
د پوهانو غونډه او عملي لفظي د ازادۍ او ازادۍ غوښتونکو په
هکله ویل شوي وه . مشکرو هغه مقولې چه د وخت شرم کې شول
خوږ دا د ... په اکثریت سره قبول وشوه .

۲ سنه دې چه پوره شو : دا مضمون چه د طبقې ، استثمار ، دولت خبره
کې د تاریخ په اوږدو کې څېړله وه او پرېښته د خبرو اترو څخه قبوله شوه .

۳ د [illegible] چینې او دېرې برخې : دا مضمون چه د مارکسیزم د علمي خبرونو
زیاتونه وه د خبرو اترو نه وروسته کې قبول وشوه .

۴ د ولي خان سره د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ د لوه غړي سره
او د هغې ... کړي ټکي ولوستل شوي او د زیاتو مشکرو په خوښه
سره کې قبول وشوه .

۵ د پښتنو او بلوڅو هغه مضمون ، کوم چه د ماې د سیاستي د علمي ورځې
په هکله کې لیکلي وو ولوستل شو او قبول د اکثریت له خوا وشوه .

۶ د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ د ټولنې د لوه غړي خاطرات چه په کوبا کې
د بین المللي کوانالو له خوا جوړه شوې وه ولوستل شوه او د لنډې زهید
د مشکرو له خوا وشوه قبول کې او دا ټولنې جرګې ته وړاندې شوه .

۷ یو پیغام ، کوم چه د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ د ټولنې له خوا په
افغانۍ سفارت کې د انقلابي کالیزې په هکله جوړ شوی وه ولوستل شو .

۸ د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ غونډې ته ... شوی شعر
ولوستل شو .

۹ د تاریخ په اوږدو کې د انسانانو ازادۍ ، د مشکرو له خوا تائید شو .

(N L U P B)

**National Liberation Union of Pushtoons and Baluchs.**

**د پښتنو او بلوڅو د ملي آزادۍ ټولنه**

No. 1012

Date 11.8.1979

نمبر ۱۱۳

نیټه ۱۹۷۹ ۸ ۱۱

د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ د ټولنې مشرانو ته .

ګرانو ملګرو !

د مرکز

د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ د ټولنې له خوا ټولو مشرانو ته خبر ورکوو .
چې د مشرانو جرګه به د لوئې جرګې نه یوه ورځ وړاندې او د لوئې
جرګې به ورځ دا اتوار دی . وړاندې غونډه جرګه به په 31.8.79 ماښام اته بجې
او د دې جرګې دوهم برخه به په 1.9.79 سهار لس بجې وي .

د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ د ټولنې د مشرانو څخه په ټینګه وخت
د پابندۍ هیله کوو .

په ملګرتیا

د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ د ټولنې مرکز

د مشرانو د جرګې د دایرېدو ځای

د لیاقت کور

Marburger Str. 13

6 Frankfurt-Main

National Liberation Union of Pashtoons & Baluchs ★
د پښتنو او
د ملي آزادۍ
ټولنه

NLUPB
Post Box No. 190293
6 Frankfurt-Main 19
W. GERMANY

د پښتنو او بلوڅو
د ملي ازادۍ د ټولنې

د خپرونی او نشریاتو
جرګه ګۍ

کـولـن : نیټه ۱۹۷۹/۱۲/۱۵ لمبر ۸

---

د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ د ټولنې د خپرونی او نشریاتو د جرګه‌ګۍ ټولو غړوته

ګران ملګری سر لوړی او سی!

د وطن او قام د یووالی او ازادۍ تاریخی رسالت چه زمونږ د ټولنې په غاړه دی ډیر کار غواړی‌نو موږ ته ډیر کار پکاردی. یو ستر ګام چه د غلامۍ د تیارو د لیری کولو په لاره کښی زمونږ ټولنه د قام د سیاسی بیدارۍ او ذهنی‌اوښتون (انقلاب) د پاره اخلی اولس غږ دی چه لدی امله د خپرونی او نشریاتو د چارو د جرګه ګۍ دنده ډیره درنه او دویاړ که ده. د خپرونی او نشریاتو جرګه ګۍ د خپلی دې پیاوړی دندی د سر ته رسولو د پاره خپله څلورمه غونډه د روانی میاشتی (دسمبر) په پنځه ویشتمه (۲۵) نیټه د ماښام په شپږو بجو په هایدلبرګ کښی پیل کوی. پته (درک) دادی

Mohammad Scherien / Moin SYED

KRÄMERGASSE 3

6900 Heidelberg

د ټولو ملګرو څخه هیله کیږي چه خپل ټول غیری ضروري کارونه پریږدی او په دغه پرتمینه غونډه کښی خامخا ګډون وکړی او په دې توګه سره خپله تاریخی دنده سرته ورسوی او هم خپل اود نورو ملګرو مضمونونه د ځان سره راوړی

په غورځنګونو

د پښتنو او بلوڅو د ملی ازادۍ د ټولنی د
خپرونی او نشریاتو د جرګه ګۍ مشر

Paschtunen und Belutschen · Die Nationale Befreiungs-Union · Presseausschuß

3/4/1981

۱) رفیقال

۲) رفیقی ر

۳) نجبت گرم

۴) علم ترتیب

۵) تقرائیں

۶) شاہ محمود

۷) جیب لاگر

۸) ش ج ن

۹) ظفر یوسف زن

۱۰) عبدیلدین

۱۱) درویزہ

۱۲) آدم خان

۱۳) نوشاد

۱۴) شاہ صنوبر نہ

15) رسوز

۱۶) شندر

د پښتنو او بلوڅو
د ملي ازادۍ دټولنې

د خپرونې او نشریاتو
جرګه ګئ

کولن : نېټه ۷۹/۱۱/۱۵ لمبر ٦

---

دپښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ دټولنې د خپرونې او نشریاتو د جرګې
ټولو غړو ته

ګران ملګری په غوږ ځنګونو

څرنګه چه خپرونه او نشریات د ټولنې ژبه دي . ددې دپاره چه زمونږ ټولنه فعاله او ژوندۍ وې نو اولس غږ ته ډېر کار پکاردی. زمونږ دخپرونې او نشریاتو د جرګې د ریمه غونډه د دریم اولس غږ دمضمونونو دکنټرول دپاره د ددې روانې (NOVember) میاشتې په ۲٤ نېټه دخالي په ورځ د مازیګر په پنځو بجو په فرانکفورت کښې دادارې چارو دمشر لیاقت په کورکښې کیږي
پته داده

6 Frankfurt/M
Marburger str. 13

ټولو ملګرو ته زیات تاکید کیږي چه خپل ټول غیري ضروري کارونه شاته اوغورځوي او پدې غونډه کښې هرو مرو ګډون وکړي او هم خپل او دنورو ملګرو مضمونونه دځان سره راوړي .

دپښتنو او بلوڅو دملي ازادۍ دټولنې
دخپرونې او نشریاتو دجرګې مشر

Anzahlungsempfänger .

Paschtunischer Kulturvereine.V
Köln

Arbeitlose DM 5 monatlich

Konto.Nr. 5981360

BLZ 37070060

Beschäftigte DM 10 monatlich

Deutsche Bank
Zweigstelle Porz
5000 Köln 90

Ermächtigung zum Einzug von Mitgliederbeitrag .

Hiermit ermächtige ich sie, die von mir zu entrechtenden Beitrag Zahlungen wegen der Mitgliedschaft zur zeit DM 5 für Arbeitlose und DM 10 für Beschäftigte bei Fälligkeit zu lasten meines -

Girokontos - Nr ______________________ BLZ ______________________

Kontoinhaber ______________________________________________

be der ______________________________________________

______________________________________________

Bankleitzahl und Bezeichnung des Kontoführenden Kreditinstituts.

Wenn mein Konto die erfordeliche Deckung nicht ausweist, besteht - seitens des Kontoführenden Kreditinstituts keine Verpflichtung zur Einlösung.

______________________________________________
Name , Anschrift

______________________________
Unterschrift

Nationale Befreiungsunion
der Paschtunen und
Balutschen (NLUPB) e.V.
- Presseausschuß -

د پښتنو او بلو څو
د ملی ازادۍ دټولنې
د خپرو نی او نشریاتو
جرګه

کـــو لـــن : نیټه ۱۲/ ۱۰/ ۱۹۸۰ لـمـبر ۱۱

---

دپښتنو او بلو څو دملی ازادی دټولنی دخپرونی او نشریاتو دجرګی ټو لو غړو ته

ګران ملګری په غورځنګو نو

انتقاد (اعتراض) او په ځان باندې انتقاد (اعتراض) د دیالکتیکی اصول له مخی د ودی او پرمختګ نښه ده. په اوسنی وخت کښی دټو لنی د یوشمیر غړو له خوا په لمبه باندی انتقاد (اعتراض) کیږی. دا ددی خبری ښکارندوی ده چه ملګری دټو لنی په چارو کښی فعاله برخه اخلی او ټو لنه دودی او پرمختګ په لور روانه ده.

هر څومره چه ملګری دټو لنی په چارو کښی فعاله برخه واخلی هغومره دقام او وطن د ازادۍ ناوی ځان سمبالوی. ددې دپاره چه دوطن دازادۍ دولی ژر کور ته راورو پکار ده چه دخپرو نی او نشریاتو د جرګی غړې او ټول هغه ملګری چه انتقادونه (اعتراضونه) لری سره راغونډ شی او دخپلو انتقادونو (اعتراضونو) دمنځه ورلو دپاره په ګډه سره لاری چاری ولټوی. لدې امله دپښتنو او بلوڅو دخپرونی او نشریاتو د جرګی فوق العاده (ناڅاپی) غونډه دروان کال داکتوبر دمیاشتی په شپږویشتمه نیټه (۲٦) دماسپښین په دوه (۲) بجی په فرانکفورت کښی پیل کیږی.

پتـــه (درك) داده

Liaqat Ali Khan W a t a n p a l
6 Frankfurt/Main
Marburger Straße 13

دخپرونی او نشریاتو دجرګی دټولو غړو څخه هیله کیږی چه دپښتنو اوبلوڅو دملی ازادۍ دټولنی دخپلی ځانګی ټول غړې او په تیره بیا هغه غړې چه انتقادونه (اعتراضونه) لری خبرکړی چه خپل غیری ضرورې کارونه پریږدی او په دغه غونډه کښی خامخا ګډون وکړی او پدې توګه دخپل قام دیووالی او ازادۍ په لاره کښی [illegible] اوچت اوغټ ګامونه واخلی.

Die Nationale Befreiungs-Union · der Paschtunen und Balutschen ·
Presseausschuß
e.V.

په درنـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ ی

دپښتنو اوبلوڅو دملی ازادی دټولنی د
خپرونی او نشریاتو دجرګی مشـــر

د پښتنو او بلو څو دملی ازادۍ دتړو لنی
د پنځمی لوئی جرګی پـــرو تـــو کول

د پښتنو او بلو څو دملی ازادۍ دتـړو لنی پنځمه لو یه جرګه د ۱۹۷۹ کال دستـمبر دمیاشتی په دوهمه نیتـه په فرانکفورت ام ماین کښی د تـړو لنی داداری چارو دمشر لیاقت له خوا پرانستل شوه او دتـړو لنی دبیلو بیلو ځانګو دنمـایندګـانو باورلیکـو نـه ئی ولو ستل او نمایندګان ئی غو نډې تـه وروپیژندل.

وروسته له هغی درایو په یووالی سره ډاکټر هما یون دغونډې مشر وټا کل شـــو او بیا دغونډې دمشر په اجازه سره دافغانی پوهیدو نکو دعمومی اتحادی ملاتړلیک ددغه اتحادی دراليزل شوې نماینده له خوا ولوستل شو. ملا تـر لیک ته د چك چکو څخه وروسته دغونډ ی اجندا په لاندی ډول سره وټـاکل شوه

۱) دمختلفو جرګه ګیو د مشرانو کلنی خبر

۲)تشکیلاتی مسـالی

۳)دتـړو لنی داصلا حاتی چارو سلاګانی

٤)دتـړو لنی دغړو دپاره دپیژندګلوی کارتو نه

٥)دمختلفو جرګه ګیو دنوو مشرانو ټاکـه

٦) د تـړو لنی دغړو په هکله افغانی سفارت او نورو رسمی مقاماتو ته ځینی چغلی ګانی ( داموضوع وروسته دغونډ ی په جریان کښی په اجندا کښی ونیول‌شوه)

۷) پریکړه لیك

۱) دمختلفو جرګه ګیو دمشرانو کلنی خبر

لو مړی داداری جارو دمشر (سکرتر جنرال) لیاقت او بیا دپوهنځو او کلتوری

اثارو دژباړی دجرګه ګی مرستیال شیر افضل او دخپرونی او نشریاتو دجرګه ګی د

چارو مشر کبیر خپل خبر غو نډ ی ته وراندی کړ او همدغسی دبهر نیو متر قی

ډ لو سره داړیکو د ټینګولو دجرګه ګی دمشر دمر ستیال شاجهان له خوا پریښودل

شوی راپور د علاوالدین له خوا ولوستل شو . وروسته بیا دکلتوری چارو د جرګه ګی

دمشر دمرستیال نعیم ، دمالی چارو دجرګه ګی مشر اقبال خپل کلنی خبرونه

غو نډ ی ته ورکړل .

دټــو لنی دجرګه ګیو مشرانو او مرستیالانو پخپل وار سره دټــو لنی دنیمګړ تیاو

دلیری کولو ، دزده کړی دغښتلی کولو او په جر منی او نورو بهرنیو هیوادونو کښی

دپښتنو او بلو څو د ملی ازادی دټــو لنی دڅانګو دلاپسی تــنظیمولــو غو ښتنی

وکړی او پدی هکله ئی خپلی نظر بی او ابتکارو نه غو نډ ی ته وراندی کړل .

دما لی چارو دجر ګه ګی دمشر اقبال دکلنی خبر له مخی دټو لنی ټول کلنی

عایدات ۱۸۳۵ جر منی مارکه او کلنی لګښت ۲۳۹۱،۸٦ جرمنی مار که کیزی

چه پدی تو ګه سره ټــو لنه ۹۵٦،۸٦ جر منی مار که پوره وری ده .

دکلنی خبرو نو دورکولو نه وروسته دمشرانو جر ګی خپله استعفا وراندی کړه .

۲ ) تشکیلاتی مسالی

د ټو لنی دکارو نو دچټکوالی دپاره دټــو لنی دتشکیلاتو دپراخوالی په باره کښی

د مشرانو دجر ګی له خوا منل شوی پشنهاد چه دعا مله مجلس ( سیاسی

دفتر ) د جو ړ ولو منظوری وه داداری چارو دمشر (سکر تــر جنرال ) لیاقت

له خو ا لو ئی جرګی ته وارول شو او د مشرانو د جر ګی د پر یکړی سره

سم ئی ددغه مجلس ( سیاسی دفتر ) د جوړ ولو ضرو رت ته ګو ته ونیوله

دغه پیشنهاد ( تجو یز ) درایو په اتحاد سر ه د لو ئی جر ګی له خوا

ومنل شو او ددی منظوری ور کړ شو ه چه د مشرا نو د جر گی د غړو شخه دې خو تنه ملکری د مشرانو د جر گی د رسمی غو نډ ی د غړو درا یو په عادی ډیر کی ( اکثریت ) سره د عا مله مجلس (سیا سی دفتر) دغړ و په تو گه وټاکل شی او درایو په یووالی سره ددی پریکړه وشوه چه عا مله مجلس د تــو لنی د منشور سره سم په بهر او دننه کښی دتــو لنی نمایندگی کوی او دتو لنی چاری پر مخ بیا ئی او یو ازی لو ئی جر گی ته مسئو لیت پغا ړه لری خو د مشرانو د جرگی رسمی غو نډه کو لی شی چه د دوه پر دری برخو درایو په ډیرکی سره یو یا خــو غړی د عا مله مجلس په مو قعتی ډول لیری کړی او په ځای ئی نور وټــا کی خو اخر نی پر یکړه لو یه جر گه کوی . د عا مله مجلس دو ره دیوه کال دپاره ده .

همدغسی دتو لنی د مشر پیشنهاد د اقبال له خوا وشو . ددغه پیشنهاد دمنلو شخه وروسته د کبیر په پیشنهاد سر ه علی خان د رایو په یووالی سره د تــو لنی د مشر په تو گه د لو ی جر گی له خوا وټــــــــا کــــــل شو او د د ه دواك او مسئو لیت پو له ئی په لاندی ډول سره را ښکدله.

د تو لنی مشر د عا مله مجلس غړی دی او دیو ه کال دپاره ټا کل کیږی او مجبوره دی چه د خپلو ټو لو کارونو شخه عا مله مجلس ته خبر ورکړی او د عا مله مجلس درایو په یووالی سره کو لی شی چه لو یه جر گه راوغواړی او که څه ورته پیښ شی کو لی شی چه د عا مله مجلس د غړو شخه یو تن د خپل نا ئب په تو گه وټاکی . د مشرانوجر گی رسمی غو نډ کو لی شی چه د دری پر څلورو برخو درایو په ډیر کی سره دتو لنی مشر لیری کړی او په ځای ئی په موقعتی

تو گه بل مشر ونو ماوی خو اخر نی پریکړه یوازی لو یه جر گه کولی شی

۳) د تو لنی د اصلا حاتی چارو سلا گا نی

دتو لنی داصلا حاتو په هکله درایو په اتحاد سره دا پریکړه وشوه چه د تو لنی نوی تا کل شوی مشر علیخان دې په مختلفو ښارونو کښی دتو لنی دڅانگو دملگرو سره لیدنه کتنه وکړی او د اداری چارو د مشر لیا قت په سلا سره دې دلاری کرا یه ورکول کیږی تر څو چه د ملگرو په منځ کښی تماس زیات او کار مخ په وراندی لاړشی او همدار نگه د ملگر ی شا محمو د استعفا چه د مشرانو جر گی ته ئی وراندی کړی وه او عذر ئې د مشرانو د جر گی له خوا معقو ل گڼل شوی و دلوی جر گی له خو ا دلز څه بحث څخه وروسته ومنل شوه

٤) دتو لنی دغړو دپاره دپیژندگلوی کار تونه

دتو لنی دغړ و دپاره دکارتو نو په باره کښی د لو ی جرگی درایو په ډیر کی سره ددې پریکړه وشوه چه په دغه مسا له دې دمشرانو د جر گی له خوا غور او څیړ نه وشی او ورو سته له هغی که ئی لازم وگڼل بیا دې چا پ شی .

٥) دمختلفو جر گه کیو د نوو مشرا نو تا کنه

—— د اداری چارو د جر گه گی دمشر په تو گه لیا قت درایو په اتحاد سره بیا ددغه جر گه‌گی دمشر په تو گه تا ئید او نواز ئی د مرستیال په حیث وټاکل‌شو

—— د پو هنیزو او کلتو ری اثارو د ژباړی دجر گه گی دمشر په تو گه درویزه اڅکزی درایو په یووالی سره وټاکل شو

—— د خپرو نی او نشریاتو د جر گه گی د مشر په تو گه کبیر بیا د رایو په اتحاد سره تا ئید او شا جهان ئی دمرستیال په تو گه وټاکل شو

ـــــــــ دبهرنیو متر قی ډلو سره داړیکو دټینګولو دجرګه ګی مشر شیر افضل او

مرستیالئی شیرین درایو په اتحاد سره وټاکل شو

ـــــــــ دکلتوری چارو دجرګه ګی مشر عبدالحبیب حبیب او مر ستیال معین

درایو په یووالی سره وټاکل شو

ـــــــــ د ما لی چارو د جر ګه ګی مشر اقبال "لالا" او مرستیالګی قاضی

په خپلو دندو کښی بیا درایو په اتحاد سره تا ئید شو

ـــــــــ دلر او بر افغا ن سره داړیکو دجر ګه ګی مشر علاوالدین او

مرستیال ئی نصیر درایو په یووالی سره وټــاکل شو

٦) دټولنی دغړو په هکله افغانی سفارت او نورو رسمی مقاماتو ته چغلی کانی

پدی هکله دوخت دکموالی له امله مفصل بحثاونه شو او کو مه پر یکړه

منځ ته را نه غله خو دغه کار د غوندی د یو شمیر غړو له خوا سخت وغندل شو

٧) دلو ئی جر ګی خوا خو تنو ملګرو ته ددي دنده ورکړ شو چه دپریکړه لیک

مسوده تیاره کاندي او د مشرانو د جرګی دمنلو څخه وروسته دي چاپ

کړای شي

---

یادو نـه: لو یه جر ګه د ١٩٧٩/٩/٢ دماسپښین په پاوکم یوه بجه پیل او

دماخوستن په ٩ بجو پای ته ورسیده

**NBUPB**

Nationale Befreiungsunion der Paschtunen und Balutschen

د پښتنو او بلوچو
د ملي آزادۍ ټولنه

DIE NATIONALE BEFREIUNGSUNION DER PASCHTUNEN UND BALUTSCHEN IN DER BUNDESREPUBLIK DEUTSCHLAND RUFT ZU EINER DEMONSTRATION AM 19.1.1980 (Beginn: 12 Uhr am Hofgarten) GEGEN DIE RUSSISCHE INVASION IN AFGHANISTAN AUF!

Im Dezember 1979 wurde Afghanistan von russischen Truppen besetzt, unter dem Vorwand, von der sogenannten afghanischen Regierung zu Hilfe gerufen worden zu sein. Bei dieser Regierung handelt es sich aber nicht um eine von der Mehrheit akzeptierte oder gewählte Volksvertretung, sondern um ein von den Russen eingesetztes Marionettenregime. Diese "Regierung" vertritt nicht die Interessen des afghanischen Volkes, sondern hilft der Sowietunion aus Afghanistan eine russische Kolonie zu machen. Unseren nationalen Stolz kann man aber nicht mit Waffen brechen oder mit Geld kaufen.

Wir fordern alle Paschtunen, Balutschen und anderen Afghanen auf, den Russen genauso eine Lektion zu erteilen, wie wir sie 1919 der englischen Kolonialmacht erteilt haben.

Laßt uns einem alten afghanischen Sprichwort folgen, welches besagt:

Wasser läßt sich nicht mit einem Messer trennen!

Nieder mit der russischen Invasion!

Es leben die Befreiungskämpfer Afghanistans!

Wir wollen keine Fremdherrschaft in Afghanistan!

Wir fordern alle demokratischen Kräfte der Welt auf, unser Volk gegen die russische Invasion zu unterstützen!

National Liberation Union of Pashtoons & Baluchs